Libtoon.com

جمال القرآن

لیکوال

مولانا اشرف علی تهانوي (رح)

ژباړن

محمد جواد مبارز

Libtoon.com

خیبر خپرندویه اداره

میوند وات احمدي پلازه دویم پور کابل

Contact #: 0772033827 | 0778000128

E-mail: khyberbooks@gmail.com

Download more from Libtoon.com

لړلیک

د پیل خبرې ٥
پیلیزه ٦
لومړی لوست ١٠
د تجوید پېژندنه او ارزښت ١٠
دویم لوست ١٦
د توریو مخرجونه (١) ١٦
دریم لوست ٢٣
د توریو مخرجونه (٢) ٢٣
څلورم لوست ٣٢
د توریو صفات ٣٢
پنځم لوست ٤١
غیر متضاد صفتونه ٤١
شپږم لوست ٥٠
محسنه او محلّیه (عارضي) صفات ٥٠
اووم لوست ٥٥
د راء احکام ٥٥
اتم لوست ٦٦
د ساکن او مشدد میم احکام ٦٦

Download more from Libtoon.com

نهم لوست ۷۱
د تنوین او ساکن او مشدد نون احکام ۷۱
لسم لوست ۷۹
د مدي توریو احکام (۱).. ۷۹
یوولسم لوست ۸۵
د مدي توریو احکام (۲).. ۸۵
دوولسم لوست ۹۶
د همزه ځیني احکام ۹۶
دیارلسم لوست.. ۱۰۰
د وقف احکام ۱۰۰
څوارلسم لوست ۱۱۰
مهم او تیت و پرک ټکي ۱۱۰
د توریو د مخرجونو ښودنه.. ۱۲۰

Download more from Libtoon.com

د پیل خبرې

الحمد لله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلوة والسلام علي رسوله الکریم اما بعد:

محترمو لوستونکو! د دې باارزښته کتاب د ژباړې د سریزې په توګه په لنډ ډول دومره وایم چې لکه څرنګه چې قرآن کریم د الله تعالی کلام او ټولو ته د احترام وړ دي، نو له قرآن سره چې کوم علمونه تړلي دي هغه هم باید د احترام وړ او زده کړه یې ترسره شي، د تجوید علم هاغه علم دي چې د قرآن د ښه لوستلو بنسټ او اساس جوړوي، دغه کتاب چې ستاسو په لاسونو کې دي د نړۍ د ستر او مخکښ عالم مولانا اشرف علي تهانوي (رح) صاحب یو له غوره اثرونو څخه دي، کتاب په اصل کې اردو خو د نړۍ مختلفو ژبو ته ژباړه او ترجمه شوي، او ډیرو ژباړونکو مختلفې حاشیې هم پرې لیکلي دي،دا دي ما هم په خپل وار سره پښتنو ورونو ته د خدمت او چوپړ لپاره په پښتو ژبه وژباړه او په دې کې مې د ښاغلي ابوشعیب عبدالقادر دهقان له حاشیو څخه ګټه اخیستې چې په دې ژباړه کې د (ب) په توري باندې مشخص شوي دي. الله تعالی دې مونږ او تاسو ته د ښه قرآن لوستلو وړتیا او په قرآن باندې عمل راپه برخه کړي. په پای کې د خیر کتاب پلورنځي له اداري نه مننه کوم چې د دې او داسې نورو ښو کتابونو د ژباړې لپاره یې تل هڅولي یم. او له تاسو ټولو نه غواړم چې د زړه له کومې ماته دعا وکړئ.

محمد جواد مبارز

Download more from Libtoon.com

پیلیزه

د الله تعالي د ستاینې او تعریف او د اسلام په ګران پیغمبر حضرت محمد (ص) باندې له درود نه وروسته.

موجوده لیکنه د قرآن کریم د تجوید په زمینه کې د لازمې پوهیدنې د بیان لپاره یوه لنډه لیکنه ده، چې د خپل ګران دوست د ګنګوې د قدوسیه مدرسې مدیر مولوي حکیم محمد یوسف پر ورانديز، د معتبرو سرچینو نه په ګتې اخیستنې سره په ساده او روان عبارت او د نویو زده کوونکو له فهم او درک سره سمه لیکل شوې ده.

د دې رسالې په تدوین کې د دیوبند د عالي مدرسې د قرائت د څانګې د وتلي استاد او مدرس قاري مولوي عبدالوحید د ((هدیة الوحید)) اثر څخه زیاته ګټه اخیستل شوې ده.

نورې منابع چې ګټه ترې اخیستل شوې د کتاب په حاشیو کې ذکر شوي؛ نو ځکه، هغه مطالب چې د منبع او ماخذ له ذکر نه پرته بیان شوي، په هغه صورت کې چې په ((هدیة الوحید)) کتاب کې شتون ونلري د مولف او لیکوال له لوري به وي.

و بالله التوفیق وهو خیر عون و خیر رفیق

اشرف علي تهانوي ادهمي حنفي، عفی عنه

Download more from Libtoon.com

ښوونکي ته:

۱. د لوستونو ویش او تنظیم د مهمو مطالبو پر بنسټ شوی او د هر لوست لوستنه په یوه ناسته او جلسه کې حتمي نده.

۲. د تجوید د زده کړې د کیفیت د پورته کولو لپاره پکار ده چې، درانه استادان د کتاب تمرینونو او د تجویدي قواعدو عملي کار ته زیاته پاملرنه وکړي، او یوازې د کتاب د متن او مطالبو په زده کولو باندې بسیا ونکړي؛ ځکه د تجوید د علم زده کړه د زیات تمرین په ګانه (ګروي) کې ده.

۳. له کوم ځایه چې د توریو (حروفو) صحیح تلفظ او د صفاتو رعایت یې د تجوید د علم اصلي برخه تشکیلوي، نو ښوونکي او استاد ته پکار ده چې د شاګردانو د تلفظ طریقې او قرائت ته په ځیر سره غوږ شي او د هغوی د غلطیو د تصحیح او ستونزو د لرې کولو لپاره تر زیات حده لارښوونه او وضاحت وکړي، او ترڅو چې شاګرد د توري په صحیح تلفظ باندې بشپړ مسلط شوی نه وي د پورته درجو لوستنه او تدریس دې نکوي.

٤. د هر لوست په پای کې چې د ((یاد کړئ)) تر عنوان لاندې کوم آیتونه راغلي، غوره ده چې د ښه یادولو لپاره لومړی د استاد له لوري قرائت شي او د مربوطه لوست قواعد عملاً ترسره او اجرا شي. (او که په ډله ایز ډول تلاوت شي نو ښه به وي).

((بیا لیکونکی))

Download more from Libtoon.com

ننوتل (درامد)

د کتاب اصلي مباحثو ته د ننوتلو نه مخکې بــه ښــه وي چــې د قرآن د قرائت مراتب او ډولونه وپيژنئ؛ د تجويد علماوو قرائت په دري رتبو باندې وېشلی دی:

۱. تحقيق:

که قرائت په داسې ډول وي چې په هغه کې د هر توري حق پــه پوره او کامله توګه ادا شي او د مــدونو اشــباع، د همــزو او غنــو تحقيق، د حرکاتو اتمام او پوره والی، له مخارجو نه د توريــو اداء او د وقفونو ملاحظه په پام او ځير سره کاملاً رعايت شــي، داســې ډول قرائت ته ((تحقيق)) وايي.

۲. حدر:

که په قرائت کې قرائت ته د چټکتيا او سرعت ورکولــو لپــاره د احکامو په تخفيف، قصر، ساکن کول، اختلاس، بدل، ادغام کبيــر، د همزه تخفيف او دا ډول نور کارونه چې د قرائت پــه علــم کــې صحيح وي، ترسره شي؛ نو د قرائــت دې ډول تــه ((حــدر)) ويــل کېږي.

۳. تدوير:

د قرائت هغه طريقه چې د تحقيق او حدر ترمنځ وي، تــدوير يــا توسط نومېږي.

Download more from Libtoon.com

٤. ترتیل:

د قرائت دا طریقه کومو خاصو احکامو او قواعدو باندې مشخصه نده، او پورتني درې ګوني قرائتونه په ترتیل کې داخل دي؛ ځکه ترتیل دې ته وایي چې توري او حروف په صحیح ډول له مخارجو نه د هغوی د صفاتو او خصوصیاتو په رعایت سره تلفظ شي او د وقف او وصل ځایونه مراعات شي. په دې اساس ویلی شو چې ترتیل هماغه د تجوید علم دی.

بیا لیکونکی

Download more from Libtoon.com

لومړی لوست

د تجوید پېژندنه او ارزښت

۱- د تجوید د علم تعریف او پېژندګلوي:

تجوید په لغت کې ښه کولو ته وايي او د قرائت د علم په اصطلاح کې عبارت دی له: ((هر توری د خپلو آدابو او صفاتو په رعایت سره له خپل مخرج نه ادا کول.)) او د تجوید د علم حقیقت له دې نه زیات نه دی.

۲- د تجوید د علم ارزښت:

د قرآن غلط لوستل، یا د تجوید د قوانینو له رعایت نه پرته د توریو تلفظ ته ((لحن)) وايي، لحن په دوه ډوله دی: جلي او خفي.

جلي لحن[1]: هغه دی چې قاري یو د لاندنیو غلطیو باندې مرتکب شي:

الف: د یو توري بدلول په بل توري باندې، د مثال په ډول د ((ث)) پر ځای ((س)) تلفظ کړي، یا د ((ح)) پر ځای ((هـ))، یا د ((ذ)) پر ځای ((ز))، یا د ((ص)) پر ځای ((س))، یا د ((ض)) پر ځای ((ذ)) یا ((ظ))، یا د

[1] هغې ښکاره غلطۍ ته وایې چې غالباً د کلمې په معنا کې بدلون راولي.

Download more from Libtoon.com

((ظ)) پر ځای ((ذ))، یا د ((ع)) پر ځای همزه تلفظ کړي. ((چې متاسفانه په دې ډول سهوو کې پوه او باسواده خلک هم مبتلا او ګیر دي)).

ب: د یوې کلمې د توریو په شمېر کې زیاتوالی، د مثال په ډول د ((اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ)) په جمله کې د ((د)) د توري پېښ (ضمه) یا د ((هـ)) د توري زیر (کسره) داسې کش کړای شي چې د ((واو)) او ((یاء)) آواز ترېنه پیدا شي، لکه داسې: ((اَلْحَمْدُو لِلّٰهِی)).

ج: د یوې کلمې د توریو نه د کوم توري کمول، د مثال په ډول د ((لَمْ یُولَدْ)) په جمله کې د ((و)) توری ښکاره نکړي او ((لَمْ یُلَدْ)) ولولي.

د: په حرکاتو کې بدلون (یعنې په فتحه، کسره، ضمه او سکون کې): د مثال په ډول د ((اِیَّاکَ)) په کلمه کې د ((ک)) توری مکسور ولولي، یا د ((اِهْدِنَا)) په کلمه کې همزه مفتوحه کړي، یا د ((اَنْعَمْتَ)) په کلمه کې ساکن میم ته حرکت ورکړي او ((اَنْعَمَتَ)) ولولي، یا په پورته ډول نورې غلطۍ وکړي.

په لحن جلي باندې مرتکب کېدل حرام دي.[1] په ځینو مواردو کې معنا بدلون مومي او لمونځ باطل کېږي.

خفي لحن: (وړوکې او پټه غلطي) هغه ده چې د هغو قواعدو پر

---

[1] حقیقة التجوید

Download more from Libtoon.com

خلاف ولوستل شي کوم چې د توریو د شکلا لپاره مقرر شوي دي. د مثال په ډول کله چې د ((راء)) توری د ضمې او فتحې حرکت ولري نو له قانون سره سم باید ډکه ولوستل شي، لکه د ((الصِّرَاط)) د کلمې راء، اما که څوک يې تشه او باریکه ولولي، نو دې ته خفي لحن وايي. دا ډول غلطي له لومړي ډول غلطۍ نه سپکه ده، یعنې مکروه ده.[1] ولې له دې ډول غلطیو نه هم ځان ساتل پکار او لازم دي.

د قرآن د تلاوت آداب

د قرآن کریم د تلاوت له پیل نه وړاندې د ((اعوذ بالله من الشيطان الرجيم)) ویل لازم دي.[2] او د ((بسم الله الرحمن الرحيم)) د ویلو په باره کې دا تفصیل شتون لري چې:

۱- که د سورتونو له سر نه قرائت شروع شي، د ((بسم الله الرحمن الرحيم)) ویل لازم دي.

---

[1] حقیقة التجوید

[2] د جمهورو مذهب دا دی چې له تلاوت نه مخکې د اعوذ بالله لوستل مستحب دي، کما في بعض شروح الشاطبیه (زینة الفرقان) (اما ځینو د نحل د سورت د ۹۸ آیت په بنا باندې لوستل یې واجب ګڼلي). (ب)

Download more from Libtoon.com

۲- که د سورت له منځ[۱] نه قرائت شـروع شـي، د ((بسم الله الرحمن الرحيم)) ويل ضرور ندي، ولې غوره ده چې ((بسم الله)) ولولي؛ البته د ((اعوذ بالله)) ويل په دې حالت کې لازم دي.

۳- که د قرائت پر مهال د کوم سورت پيل او سر تـه ورسـېږي (يعنې بل سورت شروع کوي) نـو د ((بسم الله)) ويـل واجـب او ضرور دي؛ اما په دې صورت کې دې د توبه د سورت په پيل کـې ((بسم الله)) نه وايي. ځيني علماوو ويلي چې: که تلاوت د توبه د سورت له سر نه شروع شي بيا دې هم ((بسم الله)) نه ويل کېږي.[۲]



[۱] د سورت له منځ نه مطلب ټول سورت دی پرته له لمړني آيت د سورت نه، کوم چې د سورت سر او شروع باندې يادېږي. (ب)

[۲] کماب النشر

Download more from Libtoon.com

پوښتنې

١- تجويد د لغت او اصطلاح له نظره تعريف کړئ.

٢- لحن څه ته وايي او په څو ډوله ده؟

٣- جلي لحن تعريف او حکم يې بيان کړئ.

٤- د خفي لحن د تعريف ترڅنګ د هغه حکم هم بيان کړئ.

٥- په کومو ځايونو کې د ((بسم الله)) ويل لازم او چيرته غوره دي؟

٦- د توبې د سورت په پيل کې د ((بسم الله)) د ويلو په باره کې د علماوو اقوال بيان کړئ.

٧- د تلاوت په شروع کې د ((اعوذ بالله)) ويل څه حکم لري؟

Download more from Libtoon.com

تمرین

(الف) هر یو له لاندنیو مواردو څخه کوم ډول لحن پورې اړه لري؟

١- ((اَللهُ الصَّمَد)) په سین سره ولولي: ((السَمَد))

٢- د ((اياكَ نَعبُدُ)) پر ځای ځوک ((نَعبُدُو)) ولولي.

٣- په ((يَقُولُ الْكَافِرُ يلَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابــاً)) کــې ((كُنــتَ تُرَابــاً)) ولوستل شي.

٤- په ((اَلْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِين)) کې د ((ر)) توری باریک او تش ولوستل شي.

Download more from Libtoon.com

دويم لوست

د توريو مخرجونه (۱)

هغه ځايونه او اندامونه چې له هغه ځای نه توري توليد او تلفظ کيږي، د توريو مخرجونه نومول کيږي. مخکې له دې چې هر يو مخرج په ځانګړي ډول بيان کړو، د غږيزو (صوتي) غړيو د ښوونې انځور ته ځير شئ:

۱- خيشوم (د پوزې وروستۍ فضا)
۲- پاسنۍ شونډه
۳- لاندنۍ شونډه
۴- غاښ
۵- ووری
۶- سخت تالو
۷- نرم تالو
۸- وړه ژبه (لهات)
۹- د ژبې څوکه
۱۰- د ژبې مخکينۍ برخه
۱۱- د ژبې منځ
۱۲- د ژبې بېخ يا ريښه
۱۳- د خوراک نل (مری)
۱۴- د غړ وتر
۱۵- د هوا نل
۱۶- حنجره



Download more from Libtoon.com

د توریو تهول مخرجونه مجموعاً اوولس دي، چې عبارت دي له:

لمړی مخرج: د خولې جوف (خالیګاه)، یانې د خولې داخلي فضا، له دې ځای نه لاندني توري تلفظ کیږي:

۱- ((واو)) کله چې ساکن وي او تر مخکې توری د پېښ لرونکی وي. لکه: ((المَغْضُوْب))

۲- ((یاء)) کله چې ساکنه وي او تر مخکې توری د زېر (کسرې) لرونکی وي. لکه: ((نَسْتَعِیْنُ))

۳- ((الف)) کله چې بې خوځښته سکون ولري او تر مخکې توری مفتوح (زور لرونکی) وي.[1] لکه: ((صِرَاطَ))

د بې خوځښته (بې حرکته) سکون قید په دې دلیل دی چې کوم الف چې د درې ګونو حرکتونو (ضمه، فتحه او کسره) لرونکی وي او همدارنګه هغه الف چې حرکت لرونکی سکون ولري، د عربو په ژبه د ((همزه)) په نوم یادیږي، که څه هم عام خلک دې ته هم الف وايي؛ ځکه نو هغه الف چې د ((الحمد)) کلمې په سر کې راغلی یا کوم الف چې د ((بَأْس)) په کلمه کې موجود دی په واقعیت کې ((همزه)) دی، مونږ به هم په دې کتاب کې دا ډول موارد د ((همزه)) تر عنوان لاندې بیان کړو. نوموړي درې توري

---

[1] باید پوه شئ چې له الف نه مخکینی توری تل مفتوح وي، او دلته مو له دې قید نه موخه د الف او همزه ترمنځ توپیر دی. (ب)

Download more from Libtoon.com

((واو، ياء، الف)) چې په كوم تفصيل سره پورته بيان شول د ((مدي او هوايي)) توريو په نوم يادېږي.[۱] مدي، په دې دليل ورته ويل كېږي چې ځيني موارد په هغوى مد كېږي، چې په لسم او يوولسم لوست كې به يې تفصيل بيان شي. او هوايي ځكه ورته وايي چې دا توري په هوا باندې ختمېږي، هغه ساكن واو او ساكنه ياء چې ترې مخكيني توري د فتحې (زور) لرونكى وي لكه: ((مِنْ خَوْفٍ)) او ((الصَّيْفِ)) كې، په ترتيب سره د واو لين او ياى لين په نامه يادېږي. ((د لين واو)) او متحرك ((واو)) له شپاړسم مخرج نه او ((د لين ياء)) او متحركه ((ياء)) له اووم مخرج نه تلفظ كېږي (چې په راتلونكو لوستونو كې به يې بحث راشي).

دويم مخرج: اقصا حلق (له خولې څخه د حلق تر ټولو لرې برخه)، يانې د ستوني وروستۍ برخه چې سينې لوري ته پرته ده، له دې ځاى نه ((همزه)) او ((هاء)) اداء كېږي.

درېيم مخرج: د حلق وسط، يانې د ستوني منځنۍ برخه، له دې ځاى نه د ((ع)) او ((حاء)) توري اداء كېږي.

څلورم مخرج: ادنا حلق، يانې خولې ته د ستوني نږدې برخه، (د حلق خوله)، له دې ځاى نه د ((غ)) او ((خاء)) توري ادا كېږي. او

---

۱ څرنگه چې مدي توري د خولې له جوف نه ادا كېږي، د جوفي توريو په نوم هم يادېږي.(ب)

Download more from Libtoon.com

دا شپږ توري چې په دويم، درېيم او څلورم مخرج کې بيان شول حلقي توري نومول کېږي:

حلقي توري شپږ دي په رښتيا

همزه هاء عين او حاء غين او خاء

پنځم مخرج: د ژبې بېخ يا رېښه، کله چې د ژبې وروستۍ برخه (عيناً هماغه برخه چې د وړوکې ژبې (لهات[1]) سره برابره واقع ده) له نرم تالو سره ولږېږي د ((ق)) توری تلفظ کېږي.

شپږم مخرج: د کاف مخرج دی چې لکه د قاف غوندې د ژبې د وروستۍ برخې او تالو د لږيدلو څخه تلفظ کېږي، په دې توپير چې د قاف له مخرج نه لږ ښکته او خولې طرف ته نږدې دی، او د تلفظ پر مهال يې کوچنۍ ژبه آزاده ده او د ژبې په وروستۍ برخه نه نښلي، د ((ق)) او ((ک)) توري د ((لهاتيه)) يا ((لهوي)) په نوم يادېږي، ولې چې ((لهات)) يا وړوکې ژبه د دوی په تلفظ کې دخالت لري. د دې دوو توريو د تلفظ د طريقې انځور ته د کتاب په وروستۍ برخه کې پام وکړئ او د ژبې حالت او شکل په ياد ولرئ.

اووم مخرج: د ژبې منځ (وسط)، کله چې مخامخ د خولې د سقف (تالو) د منځ سره ولږېږي، له دې ځای نه د ((ج))، ((ش)) او

---

[1] د لام په فتحې سره، ژبې ته ورته د غوښې ټوټه ده چې د تالو په آخر کې ځوړنده ده (د النفائس حاشيه)

Download more from Libtoon.com

غیر مدي ((یاء)) یانې متحرکه یاء او د لین یاء ادا کېږي، ۱ (د مده او لین معنا په لومړي لوست کې تیره شوه) دا درې توري د ((شجري [۲])) توریو په نوم یادېږي. (شجر د خولې د سوري په مانا ده)

پوښتنې

۱- د توریو مخرجونه یعنې څه؟

۲- مدي توري په مثال سره بیان کړئ.

۳- د همزه او الف ترمنځ توپیر څه دی؟

٤- د مدي او هوایي توریو د نومونې سبب بیان کړئ.

۵- واو لین او یای لین کوم دي؟ له مثال سره یې ولیکئ.

٦- حلقي توري له کومو مخرجونو څخه تلفظ کېږي؟

۷- د ((لهاتیه)) توریو مخرج بیان کړئ او د هغوی ترمنځ توپیر (د تلفظ له لارې) واضح کړئ.

۸- شجري توري کوم دي او د هغوی مخرج وښایاست.

۹- د دې لوست د هر توري لپاره له قرآن کریم نه څو مثالونه انتخاب کړئ او وې لیکئ، او بیا د هغوی د تلفظ طریقه تمرین کړئ.

---

[۱] د یادونې وړ ټکی دا دی چې د ((ي)) او ((ش)) توریو په تلفظ کې د ژبې او تالو ترمنځ تکر د ((ج)) په پرتله لږ دی. (ب)

[۲] د شجري توریو مجموعه ((جیش)) دی. (ب)

Download more from Libtoon.com

✍ تمرين

(الف) په لاندې آيتونو کې لهاتيه او حلقي توري مشخص کړئ او د هغوی صحيح تلفظ تمرين کړئ:

۱- قُلۡ أُوحِىَ إِلَىَّ أَنَّهُ ٱسۡتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلۡجِنِّ

۲- وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا

۳- وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا

(ب) لاندې آيتونه په ځير سره تلاوت کړئ او مدي توري په نښه کړئ:

۱- وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ يَدۡعُوهُ

۲- كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيۡهِ لِبَدًا

۳- قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّى

Download more from Libtoon.com

حفظ كريم:

سورة الجن

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓا۟ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا
عَجَبًا ﴿١﴾ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ﴿٢﴾
وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةً وَلَا وَلَدًا ﴿٣﴾ وَأَنَّهُۥ كَانَ
يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطًا ﴿٤﴾ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلْإِنسُ
وَٱلْجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴿٥﴾ وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ يَعُوذُونَ
بِرِجَالٍ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ﴿٦﴾ وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا۟ كَمَا ظَنَنتُمْ أَن لَّن
يَبْعَثَ ٱللَّهُ أَحَدًا ﴿٧﴾ وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدْنَٰهَا مُلِئَتْ
حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴿٨﴾ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ
فَمَن يَسْتَمِعِ ٱلْـَٔانَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾ وَأَنَّا لَا نَدْرِىٓ أَشَرٌّ
أُرِيدَ بِمَن فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿١٠﴾

Download more from Libtoon.com

درېيم لوست

د توريو مخرجونه (۲)

له دېنه وروسته چې کوم مخرجونه بيانېږي، غاښونه په کې مهم رول لري؛ ځکه نو لازمه ده چې لمړی د غاښونو نومونه او وېښنه وپېژنو ترڅو د پاتې مخارجو په پوهيدلو کې له ستونزو سره مخ نشو.

ټول غاښونه دوه ديرش دي، چې له دې ډلې نه څلور مخامخ يې د ((ثنايا)) (يا د مخې غاښونه) نومېږي، په دې ترتيب هغه دوه غاښونه چې په پاسنۍ ژامه کې دي ((ثناياى عليا)) او هغه دوه چې په لاندې ژامه کې دي ((ثناياى سفلى)) نومېږي، او هغه څلور غاښونه چې د ثناياى عليا او ثناياى سفلى دواړه لوريو ته واقع دي د ((رباعياتو او قواطع)) په نوم يادېږي، بيا هغه څلور تېره غاښونه چې له رباعياتو سره تړلي او متصل دي د ((انياب او کواسر)) په نوم يادېږي، او د انيابو ترڅنګ څلور نور غاښونه بيا د ((ضواحک)) په نوم يادېږي، د ضواحکو په خوا کې دوولس نور غاښونه چې شپږ په پاسنۍ ژامه کې درې يو لوري او درې بل لوري او شپږ په لاندنۍ ژامه کې چې درې يو لوري او درې بل

Download more from Libtoon.com

لوري ته واقع دي د ((طواحن)) په نوم يادېږي، د طواحنو تر څنګ د غاښونو په پاى کې په پاسنۍ او لاندينۍ ژامو کې دواړه لوريو ته يو يو غاښ چې مجموعاً څلور غاښونه دي د ((نواجذ[1])) پـه نـوم يادېږي. او په مجموع کې ((ضواحک))، ((طواحن)) او ((نواجـذ)) غاښونو ته ((اضراس)) وايي. د دې لپـاره چـې د غاښـونو د نومونـو يادول آسان شي، په لاندې شعر کې په نظم باندې راوړل شوي دي:

دوه ديرش غاښه دي په خوله کې د هر چا

څلور غاښه د مخ بوله ثنايا

هم پيوسته ورسره دي رباعيات

چې په څنګ کې يې انياب دي هويدا

ورپسې څلور غاښونه ضواحک دي

دوولس غاښه طواحن دي خوشنما

يو يو غاښ په هر طرف کې اخري

دا څلور دي نواجذ اي ((همنوا))

(د يادونې وړ بـولم چـې پـورتني نظـم د ښـاغلي عبدالاحـد ((همنوا)) صاحب نظم دي، چې دلته مې د کتاب د نظم د ژباړې پر ځاي همدا پښتو نظم چې دواړه يـو مطلـب افـاده کـوي، راوړ.

[1] د عقل غاښونه (ژباړن)

Download more from Libtoon.com

ژباړونکي)

د انځورونو په برخه کې د غاښونو د ښوونې انځور ته دقت وکړئ.

اتم مخرج: حافة السان، يعنې د ژبې طرف او اړخ، کله چې د ژبې اړخ د پاسنۍ ژامې د اضراس له پنځو غاښونو (ښي لوري يا کيڼ لوري) سره ولږېږي د ((ض)) توری اداء کېږي، البته له کيڼ لوري نه يې ادا کول آسان دي او له دواړو لوريو نه هم مهال يې ادا کول هم صحيح خو ډير ګران دی، دا توری د ((حافي)) يا ((ضرسي)) په نوم نوموي[1]، د دې توري په تلفظ کې زيات خلک خطا کېږي، ځکه نو له باتجربه قاري څخه يې تمرين ضرور دی.

دا توری د ډک يا تش دال يا لکه د دال غوندې تلفظ کول، لکه څرنګه چې په دې ورځو کې زيات خلک پرې عادت دي قطعاً غلط دی. همدارنګه خالصه ((ظاء)) ويل هم غلط دی، که چيرې د ((ضاد)) توری له خپل مخرج نه په صحيح ډول د ټولو صفاتو په رعايت سره داسې تلفظ شي چې غږ په نرم ډول جريان ومومي، دلته نو د ((ظاء)) له توري سره زيات ورته والی او مشابهت پيدا کوي؛ اما له ((د)) سره قطعاً مشابهت نلري، د تجويد او قرائت د علم په کتابونو کې همداسې راغلي دي.

[1] ځکه د دې توري په تلفظ کې د ژبې اړخ (حافه) او د اضراس غاښونه دخالت لري. (ب)

Download more from Libtoon.com

نهم مخرج: د لام د توري مخرج دی، کله چې د ژبې د مخکينۍ برخې اړخ د ژبې له څوکې (سر) سره يو ځـای د پاسـنۍ ژامـې د ثنايا، رباعي، ناب او ضاحک له ووری[1] (تالو خواته په ميلان سره) سره ولږېږي، دا توری تلفظ کېږي، که د ښي لـه لـوري وي يـا د کيڼ له لوري، البته له ښي لوري نه آسان دی، او له دواړو لوريو نه هم مهال هم ادا کېږي.

لسم مخرج: د ((ن)) د توري مخرج دی چې لکـه د لام د تـوري مخرج غوندې دی، خو په دې توپير چې دلته د ضاحک غاښ کوم دخالت نلري.

يوولسم مخرج: د ((راء)) د توري مخرج دی چې د ((ن)) مخرج ته څېرمه واقع دی[2]، ولې د دې په تلفظ کې د ژبې شا هم دخالـت لري. دا درې توري (ل، ن، ر) د طرفي او ذلقي په نومونو يادېږي.[3]

دوولسم مخرج: د ((ط، د، ت)) د توريو مخرج دی چې د ژبې د څوکې او ثناياى عليا د بېخ له لږېدو څخـه تلفـظ کېـږي، پـه دې توپير چې د ((طاء)) توری د ((استعلاء)) د صفت پـه سـبب ډک او

---

[1] ووری يا لثه هغه کلکه غوښه ده چې غاښونه يې ټينګ ساتلي دي. (ب)

[2] يعنې د ((ن)) له مخرج نه لږ شاته واقع دی، او د ژبې د سر لږ شا طرف ته مايل او د ثنايـای عليـا د ووری له تماس څخه تلفظ کېږي.

[3] ځينو د (ل، ن، ر) توري لثوي پېژندلي، ولې چې لثه (ووری) د دوی په تلفظ کې دخالت لـري او د (ظ، ذ، ث) توري يې طرفي او ذلقي (ذلق ته منسوب دی، يعنې د ژبې د سر تيزي) نومولي دي. (ب)

Download more from Libtoon.com

حجمي ادا کېږي، دا درې توري په ((نِطْعي[1])) سره يادېږي.

دیارلسم مخرج: د ((ظ، ذ، ث)) د توريو مخرج دی، چې د ژبې د څوکې او ثناياى عليا د سرونو (د ثنايـاو تيـره او تيـز سـرونه) د لږېدو څخه تلفظ کېږي، په دې توپير چې د ((ظاء)) توری غليظ او ډک ادا کېږي. دا درې توري ((لِثَوي)) نوموي.

څوارلسم مخرج: د ((ص، ز، س)) د توريو مخـرج دی، چـې د ژبې د سر او د ثناياى سفلى د ژې ګانو او له ثناياى عليا سره له لـږ اتصال سره تلفظ کېږي، دا درې توري د ((صفير)) يا ((اَسَلي[2])) پـه نومونو يادېږي.

پنځلسم مخرج: د ((ف)) مخرج دی، کله چـې د ثنايـاى عليـا د غاښونو سرونه د لاندينۍ شونډې له وسط سره ولږېږي، دا تـوری تلفظ کېږي.

شپاړسم مخرج: دواړه شونډې دي، له دې ځای نه لاندې توري تلفظ کېږي: ((باء، ميم، غير مدي واو[3])) يعنې متحرک او د لين واو، په دې توپير چې د ((ب)) توری د شونډو له لنـدو برخـو (داخلـي

---

[1] نطع د خولې د سقف (تالو) د ماتوالي او ناهمواريو په معنا ده. (ب)

[2] ((اسلة اللسان)) ته منسوب دی، يعنې: د ژبې سر.

[3] څينې په دې عقيده دي چې دا مخرج غير مدي واو پورې اختصاص نلري، بلکې د واو مخـرج پـه مطلق ډول دی هاغسې چې په نوې آوا پېژندنه کې ويل کېږي. (ب)

Download more from Libtoon.com

برخو) له يوځای کېدو څخه تلفظ کېږي او په همدې سبب هغه ته ((بحري)) وايي، ((م)) د شونډو له وچو برخو (خارجي برخو) د يو ځای کيدو څخه ادا کېږي په همدې دليل هغه ته ((بري)) وايي، او د ((و)) توری د دواړو شونډو له نيمګړي يوځای والي (اتصال) څخه ادا کېږي. دا درې توري د ((شفوي)) په نوم يادېږي.[1]

اوولسم مخرج: د غُنې مخرج دی چې له خيشوم (د پوزې آخري فضا) څخه عبارت دی. د غنې مفصل احکام به په اتم او نهم لوست کې راشي.

نوټ: د توريو د مخرجونو د پيدا کولو لپاره لمړی توری ساکن او بيا يې مفتوح همزه په سر کې راولو، هر ځای چې غږ پای ته ورسېد نوموړی ځای د هماغه توري مخرج دی. لکه: اَبْ، اَمْ

---

[1] په دې دليل چې شونډې د هغوی په تلفظ کې دخالت لري، شفه د شونډې په معنا ده. د ((ف)) توری هم د شفوي توريو له جملې څخه دی. (ب)

Download more from Libtoon.com

✍ پوښتنې

۱- د غاښونو نومونه په ترتیب سره بیان کړئ.

۲- د ((لثوي)) توریو د تلفظ ځای بیان کړئ.

۳- آیا ذلقي توري له یو مخرج څخه تلفظ کېږي، له کوم مخرج څخه؟

٤- نِطعي توري لهٔ کوم مخرج نه تلفظ کېږي؟

٥- د لاندې توریو د تلفظ ځای له مثال سره بیان کړئ: (ف-م-س-ظ-ب-ث)

٦- د لام او نون د توریو د تلفظ توپیر له مثال سره بیان کړئ.

۷- د ((ب، م، و)) د تلفظ په طریقه کې کوم توپیر شتون لري؟

۸- غنه له کوم غړیز غړي (صوتي اندام) څخه تولیدیږي؟

۹- د توریو مخارج په کومه طریقه پیدا کولی شو؟

Download more from Libtoon.com

تمرين

(الف) په لاندې آيتونو کې نطعي او ذلقي توري په ډاګه کړئ او د هغوی صحيح تلفظ. تمرين کړئ:

۱- وَأَمَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ فَكَانُواْ لِجَهَنَّمَ حَطَبٗا

۲- قُلۡ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٞ

۳- وَلَنۡ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدًا

(ب) د ((ض)) د توري صحيح تلفظ په لاندې کلمو کې تمــرين کړئ: (ضَلَّ رِضْوَانَ الله اَرْضِنَا فَضْلِه)

Download more from Libtoon.com

حفظ کرئ:

سورة الجن ١١- ٢٠ آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدٗا ﴿١١﴾ وَأَنَّا
ظَنَنَّآ أَن لَّن نُّعۡجِزَ ٱللَّهَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَن نُّعۡجِزَهُۥ هَرَبٗا ﴿١٢﴾ وَأَنَّا
لَمَّا سَمِعۡنَا ٱلۡهُدَىٰٓ ءَامَنَّا بِهِۦۖ فَمَن يُؤۡمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ
بَخۡسٗا وَلَا رَهَقٗا ﴿١٣﴾ وَأَنَّا مِنَّا ٱلۡمُسۡلِمُونَ وَمِنَّا ٱلۡقَٰسِطُونَۖ
فَمَنۡ أَسۡلَمَ فَأُوْلَٰٓئِكَ تَحَرَّوۡاْ رَشَدٗا ﴿١٤﴾ وَأَمَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ فَكَانُواْ
لِجَهَنَّمَ حَطَبٗا ﴿١٥﴾ وَأَلَّوِ ٱسۡتَقَٰمُواْ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسۡقَيۡنَٰهُم
مَّآءً غَدَقٗا ﴿١٦﴾ لِّنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَمَن يُعۡرِضۡ عَن ذِكۡرِ رَبِّهِۦ يَسۡلُكۡهُ
عَذَابٗا صَعَدٗا ﴿١٧﴾ وَأَنَّ ٱلۡمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا
﴿١٨﴾ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبۡدُ ٱللَّهِ يَدۡعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيۡهِ لِبَدٗا
﴿١٩﴾ قُلۡ إِنَّمَآ أَدۡعُواْ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِهِۦٓ أَحَدٗا ﴿٢٠﴾

Download more from Libtoon.com

څلورم لوست

د توريو صفات

د توريو د ادا کولو څرنګوالي او کيفيت ته ((صفت)) وايي او په دوه ډوله دی:

لمړی ډول: هغه ډول صفات دي چې په نه رعايت کولو سره د توري وجود او شتون له منځه ځي، دا ډول صفات د ((ذاتيه، لازمه، مميزه او مقومه)) په نومونو يادېږي.

دويم ډول: هاغه صفات دي چې په نه رعايت کولو سره توری له منځه نه ځي خو ښکلا يې نه پاتې کېږي، دا ډول صفات د ((محسنه، مزينه، محليه او عارضه)) په نومونو يادېږي.

لمړی ډول صفات ټول اوولس دي (چې لس يې يو له بل سره متضاد او پاتې اوه يې هيڅ ډول تضاد يو له بل سره نلري).

متضاد صفات عبارت دي له:

۱- همس: کوم توري چې دا صفت لري د ((مهموسه)) په نامه يادېږي، د ((همس)) له صفت نه موخه دا ده چې د دې توريو د تلفظ پر مهال غږ په مخرج کې دومره کمزوری او ضعيف کېږي

Download more from Libtoon.com

چې د ساه او نفس جاري درلودل ممکن وي او په غږ کې یــو ډول ټيټوالی شتون لري، مهموسه توري لس دي چې ټولګه يې ((فَحَثَّه شَخصٌ سَكَت[۱])) دي.

۲- جهر: د ((جهر)) د صفت معنا دا ده چې دا توري پیـاوړي او ښکاره تلفظ شي، داسې چې د ساه جريان پرېک شي او په غږ کې يو ډول قوت او لوړوالی شتون ولري، له مهموسه توريو نــه پرتــه نور ټول پاتې (۱۸ توري) مجهــوره تــوري دي، او د ((همــس)) او ((جهر)) صفات يو د بل ضد دي، کوم توري چې پــه هغــو کــې د ((جهر)) صفت پيدا شي د ((مجهوره)) په نوم يادېږي.

۳- شدّت: کوم توري چې د ((شــدت)) د صــفت لرونکــي دي، ((شديده)) نومېږي. له دې صفت نه مطلب دا دی چې د دې توريو د تلفظ پر مهال غږ د دوی په مخرج کې په داسې قوت سـره بنـد (حبس) شي چې د غږ جريان پرېک کړي، او په آواز کې يــو ډول تندي او سختي شتون ولــري. ((شــديده)) تــوري اتــه دي چــې د ((أَجِدُكَ قَطَبْتَ)) په جمله کې راټول شوي دي.[۲]

٤- رخوت: د ((رخوة)) د صفت مطلب دا دی چې د دې توريــو

---

[۱] په غوسه يې کړ هغه چا چې غلی شو.

[۲] زه تا مومم چې مخ دې تريو کړی.

Download more from Libtoon.com

د تلفظ پر مهال، غږ د دوی په مخرج کې په داسې سُستوالي او کمزورۍ سره ځای نیسي چې د غږ جریان ادامه پیدا کړي او په هغه کې یو ډول نرمي وي. کوم توري چې دا صفت لري د ((رخوة)) توریو په نوم یادېږي، ((شدت)) او ((رخوت)) هم لکه د ((همس)) او جهر)) غوندي یو د بل ضد دي.

د ((شدت)) او ((رخوت)) د صفاتو ترمنځ د ((توسط)) په نوم یو بل صفت هم شتون لري او کوم توري چې دا صفت لري د ((متوسطه او بینه)) په نومونو یادېږي. د ((توسط)) د صفت معنا دا ده چې نه پکې غږ په بشپړ ډول غوځ شي او نه په پوره توګه جاري پاتې شي.[1] دا توري پنځه دي چې د ((لِن عمر[2])) په جمله کې راټول شوي دي.

د تجوید د علم علماوو، د ((توسط)) صفت د ځانته صفت په توګه نه دی ګڼلی، ځکه په هغه کې لږ څه شدت او څه اندازه رخوت موجود دی، په دې اساس له دوی دواړو څخه بېل ندی. د ((شدیده)) او ((متوسطه)) توریو نه پرته نور پاتې ((۱۵ توري)) د ((رخوه)) توریو په نوم یادېږي.

دلته دا پوښتنه راپیدا کېږي چې ولې د ((تا او کاف)) توري د

---

[1] حقیقة التجوید

[2] آرام او نرم اوسه ای عمره.

Download more from Libtoon.com

((مهموسه)) توريو په ډله کې شمېرل شوي، په داسې حال کې چې په دوی کې غږ بندېږي چې په همدې دليل سره په ((شديده)) توريو کې هم شمېرل شوي دي؟

ځواب دا دی چې په دې دوو توريو کې د ((همس)) صفت کمزوری او د ((شدت)) صفت پياوړی دی، چې د ((شدت)) د قوت له امله غږ بندېږي؛ اما د ((همس)) په لږ اندازه شتون سره، نفس له قطع کېدو نه وروسته يو څه اندازه جريان پيدا کوي، خو د نفس د جريان په باره کې بايد احتياط وشي چې غږ جريان ونه مومي، ځکه که غږ جريان پيدا کړ نو دا دوه توري بيا د ((شدت)) له صفت څخه وتلي په ((رخوت)) باندې بدلېږي، همدارنګه په دوی کې د ((هاء)) د توري غږ پيدا کېږي چې سم ندی.

۵- استعلا: هاغه توري چې د دې صفت لرونکي دي، ((مستعليه)) نومېږي، معنا يې دا چې د دې توريو د تلفظ پر مهال د ژبې ريښه او وروستۍ برخه تالو لوري ته پورته کېږي، چې له همدې امله دا توري ډک او باحجمه اداء کېږي. ((مستعليه)) توري اوه دي چې د ((خُصَّ، ضَغْطٍ قِظْ[1])) په جمله کې يوځای شوي دي.

٦- استفال: کوم توري چې دا صفت ولري د ((مستفله)) په نوم

---

[1] په تنګه کوډله کې د تودوخې پر مهال واوسېږه، خص د کوډلې او وړې کوټې په مانا، ضغط د تنګ په مانا، قظ له قبط څخه د امر صيغه ده چې په ګرمۍ کې د اوسېدنې په مانا ده.

Download more from Libtoon.com

یادېږي، په دې وضاحت چې د دې توريو د تلفظ پر مهال د ژبې رېښه تالو لوري ته نه پورته کېږي، له همدې امله دا توري باریک او تش تلفظ کېږي، له ((مستعليه)) توريو نه پرته نور پاتې (۲۱ توري) ټول ((مستفله)) توري دي. د ((استعلا)) او ((استفال)) دوه صفتونه یو د بل ضد دي.

۷- اطباق: د دې صفت لرونکي توري د ((مطبقه)) په نوم یادېږي، له دې صفت نه هدف دا دی چې د دې توريو د تلفظ پر مهال د ژبې وسط او منځنی برخه له تالو سره (تقریباً) نښلي (او یو ډول غبرګ نیونه رامنځته کېږي) دا توري څلور دي چې له ((ص، ض، ط، ظ)) څخه عبارت دي.

۸- انفتاح: د دې صفت لرونکي توري د ((منفتحه)) په نوم یادېږي، د دې توريو د تلفظ پر مهال د ژبې منځنی برخه له تالو سره نه لګېږي، بلکې له تالو نه جدا پاتې کېږي (داسې چې غبرګ په آزاد ډول بیرون وځي) البته که د ژبې بیخ له تالو سره ونښلي لکه د ((قاف)) د تلفظ پر مهال او یا ونښلي.[1] د ((مطبقه)) توريو نه پرته نور پاتې (۲٤ توري) ټول ((منفتحه)) توري دي. دا دوه صفتونه هم یو د بل ضد دي.

---

[1] جهد المقل

Download more from Libtoon.com

۹- اذلاق: کومو توریو کې چې دا صفت وموندل شي د ((مذلقه)) په نوم یادېږي، د دې صفت معنا دا ده چې دا توري د ژبې له اړخ او شونډو نه په ډېره آسانۍ او سپکوالي سره تلفظ کېږي، ((مذلقه)) توري شپږ دي چې د ((فَرَّ مِنْ لُبٍّ[1])) په جمله کې را ټول شوي دي. دا توري په دوه ډوله دي، لمړی ډول یې چې ((شفویه)) دي (م، ب، ف) د شونډو له سرونو څخه ادا کېږي (د شفویه مطلب په شپاړسم مخرج کې بیان شو) دویم ډول یې چې شفویه ندي (ر، ن، ل) د ژبې له څنډې نه ادا کېږي.[2]

۱۰- اصمات: کوم توري چې دا صفت لري د ((مصمته)) په نوم یادېږي، د دې صفت مطلب دا دی چې دا توري له خپل مخرج نه په سختۍ او دروندوالي سره تلفظ کېږي نه په آسانۍ او سپکوالي سره،[3] د ((مذلقه)) توریو نه پرته نور پاتې (۲۲ توري) ټول ((مصمته)) دي او د ((اذلاق)) او ((اصمات)) صفتونه یو د بل ضد دي. کوم لس صفتونه چې اوس بیان شول د ((متضاد صفتونه)) په نوم یادېږي ځکه چې یو د بل ضد دي.

---

[1] له عقل نه والوت.

[2] درة الفرید للشیخ الدهلوي

[3] مطلب دا دی چې دا توري د ((ذلقیه)) توریو په نسبت چې د ((مصمته)) توریو ضد دي درانه دي، نه په مطلق ډول. کذا في نوادر الاصول

Download more from Libtoon.com

پوښتنې

۱- د توريو صفات په څو ډوله دي؟

۲- د ((همس)) او ((جهر)) صفات څه معنا لري؟ او كـوم تـوري

چې دا صفت لري بيان يې كړئ.

۳- ((شديده)) توري كوم دي؟

٤- د ((توسط)) صفت څه معنا لري؟ او مربوطه توري يـې كـوم

دي؟

٥- د ((تاء)) او ((كاف)) دوه توري له مهموسه توريو څخـه دي

كه له مجهوره څخه؟

٦- د ((استعلا)) صفت او د دې ضد واضح بيان كړئ.

۷- د ((اطباق)) صفت كومو توريو پورې ځانګړى دى؟

۸- ((اذلاق)) څه ډول صفت دى او د دې ضد څه دى؟

Download more from Libtoon.com

تمرين

الف) په لاندې آیتونو کې د هغو توريو چې لاندې ترې کرښه کش شوې ځانګړي صفات بيان کړئ، او آیتونه په ترتيل سره تلاوت کړئ.

۱- نٓ ۚ وَٱلۡقَلَمِ وَمَا يَسۡطُرُونَ

۲- وَإِنَّ لَكَ لَأَجۡرًا غَيۡرَ مَمۡنُونٍ

۳- إِنَّ بَطۡشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ

ب) په لاندې آیتونو کې د ((همس))، ((استعلا)) او ((اذلاق)) صفاتو لرونکي توري په نښه کړئ:

۱- يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ

۲- فَٱصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ ٱلۡحُوتِ

۳- وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكۡرٌ لِّلۡعَالَمِينَ

Download more from Libtoon.com

حفظ كرئ

سورة الجن (٢١) – (٢٨) آيتونه

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلْ إِنِّي لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾ قُلْ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي
مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾ إِلَّا بَلَٰغًا مِّنَ
ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦ ۚ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ
خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴿٢٣﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْا۟ مَا يُوعَدُونَ
فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾ قُلْ إِنْ
أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ مَّا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُۥ رَبِّىٓ أَمَدًا ﴿٢٥﴾
عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ إِلَّا مَنِ
ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ
رَصَدًا ﴿٢٧﴾ لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا۟ رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا
لَدَيْهِمْ وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًۢا ﴿٢٨﴾

Download more from Libtoon.com

پنځم لوست

غیر متضاد صفتونه

متضاد صفتونه ټولو توریو ته شامل دي او هیڅ توری له متضاد صفتونو څخه خارج نه دی، بلکې په هر توري باندې حتماً یو متضاد صفت صدق کوي؛ اما غیر متضاد صفتونه یوازې په ځینو توریو کې شتون لري او په ځینو نورو کې نشته غیر متضاد صفتونه په لاندې ډول دي

۱- صفیر د ((صفیر)) د صفت معنا دا ده چې د دې توریو د تلفظ پر مهال د شکېلي د غږ غوندې یو ډول آواز اورېدل کېږي، چې له دې سببه هغوی ته ((صفیریه)) وایي، دا ډول توري عبارت دي لـه: ((ص، ز، س)).

۲- قلقله: له دې صفت نه مطلب دا دی چې د سکون په حالت کې د هغو د تلفظ پر مهال په مخرج کې یو ډول خوځښت را پیدا کېږي. د قلقلې توري پنځه دي چې مجموعه یې ((قطب جد[1])) ده.

۳- لین کوم توري چې دا صفت لري د ((لین)) توریو په نوم

---

[1] غټ کرخنی (لوی مدار)

Download more from Libtoon.com

یادېږي، د ((لین)) له صفت نه مطلب دا دی چې دا توري له خپل مخرج نه په داسې نرمۍ سره اداء شي چې که څوک مد کول پرې وغواړي نو ویې کولای شي، د لین توري دوه دي چې عبارت دي له: ساکن ((واو)) او ساکنه ((یاء)) چې ماقبل یې مفتوح وي، لکه: ((خوف)) او ((صیف)).

٤- انحراف: د دې صفت لرونکي توري د ((منحرفه)) په نوم یادېږي، دا توري دوه دي چې عبارت دي له ((لام)) او ((راء)) څخه، د دې صفت معنا دا ده چې د دې دوو توریو مخرج د ګاونډ توریو مخرجونو ته انحراف مومي، په دې ډول چې د ((لام)) د تلفظ پر مهال د ژبې څنګ ته او د ((راء)) د تلفظ پر مهال لږ د ژبې شاه طرف ته او لږ د ((لام)) ځای خواته میلان کوي.[1] چې دې حالت ته ((انحراف)) وایي.

٥- تکریر: دا صفت یوازې د ((راء)) په توري کې لیدل کېږي، مطلب یې دا دی چې د دې توري د تلفظ پر مهال په ژبه کې یو ډول لړزه پیدا کېږي، چې په همدې سبب په آواز کې یو ډول تکرار ته ورته والی منځته راځي، موخه دا نده چې په هغه کې دې تکرار ښکاره کړی شي، بلکې د امکان تر بریده دې ځان ترې

[1] درة الفريد (په تلخيص سره)

Download more from Libtoon.com

وساتل شي که څه هم مشدده وي، ځکه په دې حالت کې هم یو توری دی زیات نه دي.[1]

٦- تفشي: دا صفت د ((ش)) توري پورې ځانګړی دی، مطلب يې دا دی چې د دې توري د تلفظ پر مهال غږ په خوله کې خپريږي (تيتيږي).[2]

٧- استطاله: دا صفت د ((ض)) توري پورې ځانګړی دی، له دې صفت نه مطلب دا دی چې د دې توري د تلفظ پر مهال د مخرج له پيل نه تر پايه، يعنې د ژبې د اړخ له شروع نه تر آخر پورې په غږ کې اوږدوالی پيدا کيږي، يعنې لکه څرنګه چې د توري مخرج اوږد دی، نو په ټول مخرج کې د غږ د جريان له امله غږ (اواز) هم اوږديږي.[3]

١-فائده: دلته دا پوښتنه رامنځته کيږي چې مخکې خو وويل شول چې غير متضاد صفتونه ټولو توريو ته شامل ندي، په داسې حال کې چې که چيرې نوموړي اوه غير متضاد صفتونه په کومو توريو کې شامل نه وي، نو د دوی ضد به په دې توريو کې شتون ولري، د مثال په ډول: د ((ض)) په توري کې د ((استطالت)) صفت

---

[1] پورتنی ماخذ

[2] درة الفريد

[3] جهد المقل

Download more from Libtoon.com

شته او په پاتې توریو کې د دې ضد، یعنې د استطالت نشتوالی شته؛ ځکه نو دا دوه ضدونه ((استطالت او عدم استطالت)) یو ځای ټولو توریو ته (لکه د متضاد صفتونو غونډې) شامل شول، نو د متضادو او غیر متضادو صفتونو توپیر څه دی؟[1]

ځواب: خبره صحیح ده، خو په متضاد صفتونو کې د هر صفت ضد هم ځانته نوم درلود او په هر توري باندې یو له دې دوو صفتونو (صفت یا یې ضد) څخه حتماً صادق راتللو، ولې دلته څرنګه چې د صفت ضد کوم نوم نلري، نو صادقیدل یې هم اعتبار نه لري، نو دا شو د دې دوو ډولونو صفتونو توپیر.

۲-فائده: تنها د توریو د مخرجونو او صفاتو په لوستلو او مطالعه کولو سره په خپل تلفظ او قرائت باندې باید باور ونشي، بلکې پکار ده چې دا مطالب د تجوید له استاد څخه زده شي، خو ترڅو چې داسې موقع او فرصت لاسته راځي له دېنه چې بیخي بې خبره او ناپوه پاتې شي، ښه او غوره ده چې د تجوید له کتابونو څخه ګټه پورته کړی شي.

۳-فائده: د څلورم لوست په پیل کې، د ((لازمه او ذاتیه)) صفت په پېژندګلوی کې مو وویل چې که دا ډول صفت مراعات نشي د

---

[1] (ځکه چې غیر متضاد صفتونو هم ضد پیدا کړ؟ او دا هم ټولو توریو ته شامل شول، نو ولې د متضاد صفتونو تر عنوان لاندې رانغلل؟) (ژباړن)

Download more from Libtoon.com

توري شتون هم نه پاتې کېږي. باید پوه شو چې د توري نــه پــاتې کېدل په څو ډوله دي، لمړی دا چې په بل توري بدل شي، دویم دا چې توري په خپل حال پاتې کېږي مګر په هغــه کــې څــه انــدازه کمی او نقصان پیدا کېږي، دریم دا چې توري د عربي توریــو پــه شکل نه پاتې کېږي او د (له ځان نه جــوړ شــوي) تــوري پــه بڼــه اوړي. همدارنګه که توري له خپل مخرج نه پــه صــحیح ډول اداء نشي همدا ستونزه پیښېږي، چې کله به یو تــوری پــه بــل تــوري بدلېږي، او کله به په هغه کې نقصان رامنځته کېږي او کله به هم له خپل طبعي حالت نه وځي او په ساختګي توري به بدلېږي؛ له هغه ځایه چې د داسې غلطیو په سبب ډیري وختونه لمونځ فاســدېږي، نو کوم وخت چې داسې غلطۍ صورت وموند باید چې اړونــده مسئله له علماوو او د فن لــه متخصصــانو څخــه وپوښــتله شــي. همدارنګه هغه سهوې چې د حرکاتو (فتحه، کسره) په بدلون یــا د توریو په کمولو او ډیرولو کې رامنځته کېــږي (چــې پــه لــومړي لوست کې یې نمونې تیرې شوې) همدا حکم لري، چې له علماوو او د تجوید د علم له استادانو څخه وپوښتل شي.

٤-فائده: د تجوید د علم اساسي موخه له هغو خطاوو څخه ځان ساتنه ده کومې چې د توریو په مخرجونو کې د نقصان او د توریو د لازمي او ذاتي صفاتو په نه رعایت کولو سره منځته راځــي، لــه

Download more from Libtoon.com

همدې امله د مخرجونو او صفاتو بيان له ټولو قواعدو څخه مقدم او مخکې شوی. دا دی اوس به هغو احکامو ته مخه کړو چې محسنه صفتونو پورې اړه لري، دا احکام په دوهمه درجه کې قرار لري، ځکه چې د دې احکامو په رعايت کولو سره غږ ښکلی او جذاب کېږي او خلک غږ ته زيات پام کوي، او څرنګه چې مخرجونه او لازمي صفات د غږ په ښکلا کې کوم دخالت نلري نو لږ د پام وړ ګرځي.

٥-فائده: لکه څرنګه چې د تجويد د علم په زده کولو کې لټې او سستي کول يو ډول بيباکي ده، دا هم يوه بې ادبي ده چې يو څوک د څو قاعدو په يادولو سره ځان په دې فن کې بشپړ وانګيري او نور خلک سپک او د دوی لمنځونه فاسد وګڼي، يا اصلاً چا پسې لمونځ ونکړي، محققينو علماوو د د عامو مسلمانانو په ګنهګاريدو او د دوی د لمونځونو په نه صحيح کيدو باندې فتوا نده ورکړې، په دې امر کې د اعتدال د حد ټاکل د هغو علماوو کار دی چې د قرائت په ضروري ګڼلو برسېره فقهي او حديث ته هم پام لري. د دې مسئلې د تحقيق لپاره د لومړي لوست د تجويد د اهميت مبحث ته وګرځئ.

Download more from Libtoon.com

✍ پوښتنې

١- د ((صفير)) توري کوم دي؟

٢- ((قلقله)) کوم صفت ته ويل کېږي؟

٣- د ((لين)) صفت څه معنا لري؟

٤- که د ((راء)) توری مشدد وي آيا د ((تکرير)) صفت پــه هغــه کې ښکاره کېږي؟ ولې؟

٥- د غير متضاد صفتونو څخه هاغه صفت چې د ((ش)) تــوري پورې ځانګړی دی، څه نومېږي؟

٦- متضاد او غير متضاد صفتونه څه توپير لري؟

٧- د تجويد د علم اساسي موخه څه ده؟

Download more from Libtoon.com

تمرين

الف) په لاندې توريو کې د غير متضاد صفتونو څخه کوم صفات شته؟

(ص، ج، ل، ر، ش، ض، ق)

ب) په لاندې آيتونو کې هاغه توري چې د ((صفير، قلقلې، استطالت)) صفتونو لرونکي دي، وپيژنئ.

١- سَأَلَ سَآئِلُۢ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ

٢- وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنجِيهِ

٣- وَلَا يَسۡـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا

Download more from Libtoon.com

حفظ كرئ:

سورة المزمل (١- ١٦) آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٢﴾ نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ
قَلِيلًا ﴿٣﴾ أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا ﴿٤﴾ إِنَّا سَنُلۡقِي
عَلَيۡكَ قَوۡلٗا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡـٔٗا وَأَقۡوَمُ
قِيلًا ﴿٦﴾ إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحٗا طَوِيلٗا ﴿٧﴾ وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ
وَتَبَتَّلۡ إِلَيۡهِ تَبۡتِيلٗا ﴿٨﴾ رَّبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ
فَٱتَّخِذۡهُ وَكِيلٗا ﴿٩﴾ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرٗا
جَمِيلٗا ﴿١٠﴾ وَذَرۡنِي وَٱلۡمُكَذِّبِينَ أُوْلِي ٱلنَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيلًا ﴿١١﴾ إِنَّ
لَدَيۡنَآ أَنكَالٗا وَجَحِيمٗا ﴿١٢﴾ وَطَعَامٗا ذَا غُصَّةٖ وَعَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٣﴾
يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلۡجِبَالُ كَثِيبٗا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾ إِنَّآ
أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡكُمۡ رَسُولٗا شَٰهِدًا عَلَيۡكُمۡ كَمَآ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ
رَسُولٗا ﴿١٥﴾ فَعَصَىٰ فِرۡعَوۡنُ ٱلرَّسُولَ فَأَخَذۡنَٰهُ أَخۡذٗا وَبِيلٗا ﴿١٦﴾

Download more from Libtoon.com

شپږم لوست

محسنه او محلّيه (عارضي) صفات

باید پوه شئ چې محسنه (ښکلا ښښونکي) صفتونه په ټولو توریو کې نه لیدل کېږي، یوازې اته توري دي چې په مختلفو حالاتو کې، رنګارنګ صفتونه په هغوی کې رعایت کېږي[1]، نوموړي اته توري عبارت دي له: ۱- ((ل)) ۲- ((ر)) ۳- ساکن او مشدد ((م)) ٤- ساکن او مشدد ((ن))، (د تنوین نون هم په ساکن نون کې داخل دی، ځکه که څه هم په رسم الخط کې نون شتون نه لري ولې په لوستلو کې تلفظ کېږي، لکه ((بً)) چې په لوستلو کې ((بَنْ)) ویل کېږي. ۵- ((الف)) چې ماقبل یې همیشه مفتوح دی. ٦- ساکن ((و)) چې کله یې ماقبل پېښ او یا زور ولري. ۷- ساکنه ((ی)) کله چې مخکې ترېنه زیر او یا زور وي (په دوهم لوست کې لومړي مخرج ته مراجعه وکړئ). ۸- ((همزه)) (د همزه حقیقت په لومړي مخرج کې بیان شو).

د دې اته ګونو توریو ځیني صفتونه د استاد د قرائت په ترڅ کې

[1] د دې اتو توریو مجموعه عبارت ده له: ((اَوَیْر مُلَان)) (زینة الفرقان)

Download more from Libtoon.com

اداء کېږي او د هغوی د بیان لپاره اړتیا نشته، لکه په ځینو مواردو کې د الف، واو، یاء او همزه ثابت پاتې کیدل او په ځینو نورو کې یې حذفیدل، دلته یوازې هغه صفتونه بیانېږي چې د استاد د قرائت په وسیله ذهن ته نه رسېږي، لکه د توریو ډک او تش لوستل، د غنې ځایونه، مد او داسې نور. اوس به د دې اتو توریو احکام بیل بیل بیان کړو.

د لام احکام

کله چې د ((الله)) په کلمه کې د((لام)) توري نه مخکې توری د پېښ او زور حرکت ولري نو باحجمه او ډک لوستل کېږي لکه: ((أَرَادَ اللهُ، رَفَعهُ اللهُ)) او دې ډک لوستلو ته ((تفخیم)) وایي؛ او کله چې ماقبل توری یې زیر ولري نو باریک لوستل کېږي، لکه: ((بِسمِ اللهِ))او دې باریک او تش لوستلو ته ((ترقیق)) وایي، د ((الله)) د لفظ نه پرته نور په عموم ډول د ((لام)) توری تش او باریک لوستل کېږي، لکه: ((مَاوَلّٰهُمْ، كُلَّه)).

یادوونه: د ((اَللّٰهُمَّ)) په لفظ کې هم پورتنی قانون اجرا کېږي، ځکه چې په سر کې یې د ((الله)) لفظ موجود دی.

Download more from Libtoon.com

✍ پوښتنې

۱- محسنه صفات کومو توریو پورې اړه لري؟

۲- د ((الله)) په لفظ کې د لام توری څه وخت په تفخیم سره لوستل کیږي؟

۳- څه وخت د ((الله)) د لفظ لام په ترقیق سره لوستل کیږي؟

٤- په عمومي ډول د لام توری (د الله د لفظ د لام نه پرته) څه حکم لري؟

٥- د ((اللّهم)) په کلمه کې لام څه حکم لري؟

Download more from Libtoon.com

تمرين

الف) په لاندې آيتونو کې د لام د تفخيم يا ترقيق حکم له سبب سره بيان کړئ:

١- قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ

٢- مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَـٰذَا مَثَلٗاۘ

٣- يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ

٤- هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ

ب) په لاندې آيتونو کې لام په تفخيم سره لوستل کيږي يا ترقيق سره

١- شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ

٢- يعلمُ مَا فِي السّموَاتِ وَالْاَرْض

٣- إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ

Download more from Libtoon.com

حفظ کړئ:

سورة المزمل (۱۷-۲۰) آيتونه

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ ٱلْوِلْدَٰنَ شِيبًا ﴿١٧﴾ ٱلسَّمَآءُ
مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ ۚ كَانَ وَعْدُهُۥ مَفْعُولًا ﴿١٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ ۖ فَمَن
شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿١٩﴾ ۞ إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن
ثُلُثَىِ ٱلَّيْلِ وَنِصْفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَ ۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيْلَ
وَٱلنَّهَارَ ۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۖ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنَ
ٱلْقُرْءَانِ ۚ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ ۙ وَءَاخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِى
ٱلْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ ۙ وَءَاخَرُونَ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ
فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۚ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَقْرِضُوا۟ ٱللَّهَ
قَرْضًا حَسَنًا ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ هُوَ
خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا ۚ وَٱسْتَغْفِرُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌۢ ﴿٢٠﴾

Download more from Libtoon.com

اووم لوست

د راء احكام

۱ قاعده: که د ((راء)) توری د پېښ یا زور (ضمه یا فتحه) حرکت ولري نو په ((تفخیم)) یعنې ډکه لوستله کېږي، لکه: ((رَبُّکَ، رُبَمَا)) او که د زیر حرکت ولري نو په ((ترقیق)) یعنې تشه لوستله کېږي، لکه: ((رِجَال)).

نوټ: مشدده راء هم یوه راء ګڼله کېږي، ځکه نو د هغې خپل حرکت ته په اعتبار سره ډکه او یا تشه لوستله کېږي، لکه د ((سِرًّا)) راء چې ډکه لوستل کېږي او د ((دُرِّیٌ)) راء چې تشه لوستل کېږي، په مشدده راء باندې راتلونکې دویم نمبر قاعده نه اجراء کېږي، لکه چې ځینې خلک په ناپوهۍ سره هغه دوه راء ګاڼي شمیري چې لمړۍ یې ساکنه او دوهمه متحرکه ګڼي او دا غلطي ده.

۲ قاعده: که د ((راء)) توری ساکن[1] وي، نو ترې مخکې توري

---

[1] برابره ده چې سکون یې اصلي وي که عارضي. (ب)

Download more from Libtoon.com

ته کتل کېږي چې کوم ډول حرکت لري، که د پېښ او یا زور حرکت ولري نو ډکه لوستله کېږي لکه: ((بَرْق، یُرْزَقُون)) او که د زیر حرکت ولري نو باریکه لوستله کېږي لکه: ((أَنْذِرْهُم))؛ اما په دې صورت کې د راء ترقیق درې شرطونه لري:

لومړی شرط: دا دی چې نوموړې کسره (زیر) اصلي وي نه عارضي، ځکه که عارضي وي نو باریکه نه لوستل کېږي لکه په ((ارْجِعُوا)) کې، په دې کلمه کې ((راء)) ساکنه او ماقبل توری یې هم کسره لري، خو لکه څرنګه چې کسره عارضي ده نو د راء توری ډک لوستل کېږي. هغو کسانو ته چې له عربي ژبې سره بلدتیا نه لري د اصلي او عارضي کسرې پېژندل ډېر ګران دي، کله چې داسې خلک له کومې ستونزې سره مخ کېږي نو هغو کسانو ته دې مراجعه وکړي چې په عربي پوهېږي.

دویم شرط: دا دی چې دا کسره او د راء توری دې دواړه په یوه کلمه کې وي، که په دوو جدا کلمو کې وي بیا هم د راء توری په ترقیق سره نه لوستل کېږي، لکه: ((رَبِّ ارْجِعُون، أَمِ ارْتَابُوا))[1] په دې شرط باندې پوهېدل نسبت لومړني شرط ته آسان دي، ځکه په غالب ډول عامو خلکو ته د کلمو یوه یا دوه کېدلو تشخیص او

---

[1] درة الفرید

Download more from Libtoon.com

پیژندل آسان دي. (یعنې په دې باندې زیاتره خلک پوهېږي چې دا یوه کلمه ده که دوه دي)

دریم شرط: دا دی چې په نوموړې کلمه کې د راء له توري نه وروسته د مستعلیه توریو څخه کوم یو نه وي، او کنه نو ډکه لوستله کېږي، (د مستعلیه توري اوه توري دي چې په څلورم لوست کې یې تفصیل تیر شو) لکه: ((قِرْطَاس، اِرْصَادًا، فِرْقَة، لَبِالْمِرْصَاد)) په دې کلماتو کې د راء توری په تفخیم سره لوستل کېږي، په ټول قرآن کې همدا څلور کلمې دي چې دا قاعده ورپورې اړه لري، له دې سببه د دې شرط پیژندل هم آسان دي.

۱-یادوونه: د دریم شرط په اساس د ((كُل فِرْقٍ)) د لفظ راء هم په تفخیم سره لوستل کېږي، خو لکه څرنګه چې د ((ق)) توری هم کسره لري، د قرائت د ځینو علماوو په نزد په ترقیق سره لوستل کېږي، په دې اساس دواړه صورتونه جائز دي.

۲- یادوونه: په دریم شرط کې راغلل چې که د راء له توري نه وروسته په نوموړې کلمه کې د مستعلیه توریو څخه کوم یو راشي نو راء به ډکه ولوستله شي، د ((نوموړې کلمې)) قید په دې سبب دی چې په دوهمه کلمه کې د مستعلیه توریو شتون کوم اعتبار نه لري، لکه په ((أَنْذِرْ قَوْمَكَ، فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيْلًا)) کې، چې دلته راء

Download more from Libtoon.com

په ترقيق سره لوستل کېږي، ځکه د مستعليه توري په دويمه کلمه کې ځای لري.

۳ قاعده: که د ساکنې راء نه مخکې توری هم ساکن وي (او دا د وقف په حالت کې امکان لري، لکه څرنګه چې له مثالونو څخه ښکاريږي) نو دلته به د نوموړي توري ماقبل ته کتل کېږي، که د پېښ او زور حرکت ولري نو راء په تفخيم سره لوستل کېږي لکه په: ((لَيْلَةُ الْقَدْرِ، بِكُمُ الْعُسْر)) کې، په دې دوو مثالونو کې راء ساکنه او ترې مخکيني توري (دال او سين) هم ساکن دي، او د ((ق)) توری زور او د ((ع)) توری پېښ لري، ځکه نو د راء توری په دې دوو کلمو کې ډک لوستل کېږي؛ او که د ساکن توري نه مخکې توری د زير حرکت ولري دلته راء په ترقيق سره لوستل کېږي لکه په: ((ذِي الذِّكْر)) کې، په دې مثال کې د راء او کاف دواړه توري ساکن دي او د ذال توری کسره لري، ځکه نو راء په ترقيق سره لوستل کېږي.

۱-نکته: که د ((راء)) له توري نه مخکينی ساکن توری د ((ياء)) توری وي، په دې صورت کې له ((ياء)) نه مخکې توری چې هر ډول حرکت ولري کوم تاثير نه لري او په هر حال کې ((راء)) په ترقيق سره لوستل کېږي لکه: خَيْر، قَدِيْر.

Download more from Libtoon.com

۲-نکته: له دړېیمې قاعدې سره سم هرکلـه چـې د ((مِصـْـر)) او ((عَینَ القِطْرِ)) په لفظونو باندې وقف وشي ((راء)) باید پـه ترقیـق سره ولوستل شي؛ اما څرنګه چې د قرائـت علمـاوو پـه دې دوو ځایونو کې د ((راء)) توری هم ډک او هم تش لوستی دی، ځکه نو دواړه صورتونه جایز دي، ولې غوره دا ده چـې پخپلـه د ((راء)) د توري حرکت ته اعتبار ورکړل شي، په دې اساس بهتره ده چـې د ((مِصْرَ)) د کلمې ((راء)) ډکه ولوستله شي، ځکه چې پخپله ((راء)) زور لري؛ او په ((القِطْرِ)) کې ترقیق اولی دی ځکه چې ((راء)) زیر لري.

۳-نکته: د دړېیمې قاعدې پر اساس هر وخت چې د الفجـر پـه سورت کې د ((اذا یَسْرِ)) پر کلمې وقف وشـي، ((راء)) بایـد ډکـه تلفظ شي؛ اما ځینو قاریانو یې باریک لوستل اولی ګڼلـي، ولـې دا روایت ضعیف دی؛ په دې اساس، د قاعـدې مطـابق بایـد ((راء)) ډکه ولوستله شي.

٤ قاعده: په قرآن کریم کې، یـو ځـای لـه ((راء)) نـه وروسـته ((اماله)) لوستل کېږي، هلته د ((راء)) حرکت کسره تصور کېږي او ((راء)) په ترقیق سره لوستل کېږي، او هغه یو ځای عبارت دی له: ((بِسمِ اللهِ مَجْرِیها)) دغه ((راء)) لکه د ((رَیحان)) د کلمـې د ((راء))

Download more from Libtoon.com

غونډې لوستله کېږي، او دا ډول لوستلو ته ((اماله)) وايي.[1] او په پښتو او فارسي کې يې ((مجهوله ياء)) بولي.

٥ قاعده: هر وخت چې ((راء)) د وقف په سبب ساکنه شي، نو ښکاره ده چې له دويمې او دريمې قاعدې سره سم به ترې مخکې توري او کله هم ماقبل د مخکيني توري (کله چې مخکينی توری هم ساکن وي) ته کتل کېږي او د ((راء)) توری به تش يا ډک لوستل کېږي؛ اما په ياد ولرئ چې هغه وخت د ((راء)) ماقبل او يا ماقبل ماقبل توري توجه کېږي چې کله د وقف په حالت کې ((راء)) په بشپړ ډول ساکنه ولوستل شي، لکه څرنګه چې د وقف عمومي طريقه ده؛ ولې وقف يوه بله طريقه هم لري او هغه دا چې په کوم توري چې وقف کېږي په بشپړ ډول يې نه ساکنوي، بلکې حرکت يې په ډېر ضعيف صورت سره ادا کېږي، او دې ډول وقف ته ((رَوم)) وايي، او د ((رَوم)) وقف يوازې د زير او پېښ په حرکتونو باندې اجرا کېږي، تفصيل به يې انشاء الله چې په دیارلسم لوست کې راشي. دلته هدف دا دی چې که په داسې ((راء)) باندې (کومه چې د وقف په سبب ساکنه شي) د روم وقف وشي مخکيني توري ته به يې نه کتل کېږي، بلکې پخپله ((راء))

---

[1] اماله يعني ميلان ورکول او د غږ ويستل، په اصل کې ((مجريها)) ((مجراها)) و، چې الف ته يې د ياء په لوري ميلان ورکړ. (ب)

Download more from Libtoon.com

چې کوم حرکت ولري د همغه حرکت سره سم دې ډکه یا تشه ولوستله شي، د مثال په ډول که د ((والفَجْرِ)) په کلمه باندې دا ډول وقف (روم) وشي نو د ((راء)) توری په ترقیق سره لوستل کېږي؛ او که د ((مُنتَصِرٌ)) په کلمه باندې دا رنګ وقف وشي نو ((راء)) ډکه لوستل کېږي.

Download more from Libtoon.com

پوښتنې

۱- کله چې د ((راء)) توری مکسور یا مضموم (زیر لرونکې یا پېښ لرونکې) وي، څه حکم لري؟

۲- د راء توری په کومو حالتونو کې تفخیم کېږي؟

۳- کله چې د ساکنې راء نه مخکې توری کسره ولري، د کومو شرطونو له مخې په ترقیق سره لوستل کېږي؟

٤- کله چې د ساکنې راء نه مخکې توری هم ساکن وي، څه حکم لري؟

٥- اماله څه ته وایي؟

٦- رَوم او اشمام کوم وقف ته وایي؟

Download more from Libtoon.com

تمرين

الف) په لاندې کلمو کې راء څه حکم لري؟

(خَيْرُ، مِصْرُ، الفُرْقَان، قَرْيَة، لِمَنِ ارْتَضٰى، قِرْطَاس، رِزْقًا، نَاصِر، فِرْق)

ب) په لاندې آيتونو کې رَوم او اشمام تمرين کړئ:

١- وَٱلَّيْلِ إِذَا يَسْرِ

٢- إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ

٣- يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُدَّثِّرُ

٤- إِنَّهَا لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ

Download more from Libtoon.com

حفظ کړئ:

سورة المدثر (١-٣١) آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ﴿١﴾ قُمۡ فَأَنذِرۡ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ﴿٣﴾
وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ﴿٤﴾ وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ ﴿٥﴾ وَلَا تَمۡنُن
تَسۡتَكۡثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ﴿٧﴾ فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ
﴿٨﴾ فَذَٰلِكَ يَوۡمَئِذٖ يَوۡمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ غَيۡرُ
يَسِيرٖ ﴿١٠﴾ ذَرۡنِي وَمَنۡ خَلَقۡتُ وَحِيدٗا ﴿١١﴾ وَجَعَلۡتُ لَهُۥ
مَالٗا مَّمۡدُودٗا ﴿١٢﴾ وَبَنِينَ شُهُودٗا ﴿١٣﴾ وَمَهَّدتُّ لَهُۥ
تَمۡهِيدٗا ﴿١٤﴾ ثُمَّ يَطۡمَعُ أَنۡ أَزِيدَ ﴿١٥﴾ كَلَّآۖ إِنَّهُۥ كَانَ
لِأٓيَٰتِنَا عَنِيدٗا ﴿١٦﴾ سَأُرۡهِقُهُۥ صَعُودًا ﴿١٧﴾ إِنَّهُۥ فَكَّرَ
وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾
ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدۡبَرَ وَٱسۡتَكۡبَرَ ﴿٢٣﴾

Download more from Libtoon.com

فَقَالَ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا قَوْلُ
ٱلْبَشَرِ ﴿٢٥﴾ سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾
لَا تُبْقِى وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾ عَلَيْهَا تِسْعَةَ
عَشَرَ ﴿٣٠﴾ وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةً ۙ وَمَا
جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِيَسْتَيْقِنَ ٱلَّذِينَ
أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَيَزْدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِيمَٰنًا ۙ وَلَا يَرْتَابَ
ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۙ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِى
قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلْكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۚ
كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَمَا يَعْلَمُ
جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا هِىَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾

Download more from Libtoon.com

اتم لوست

د ساکن او مشدد میم احکام

۱ قاعده: که چیرته میم مشدد وي ((غنه)) په کې ضروري ده، لکه: ((لَمَّا)) او په دې حالت کې یې د ((غنې)) توری نوموي. ((غنه)) یعنې پوزې ته غبږ وړل.

۲ قاعده: د غنې اندازه یو الف ده، او د یو الف د اندازې د پېژندلو آسانه طریقه دا ده چې ترلې ګوته خلاصه کړي، یا پرانیستې ګوته بنده کړي او دا یوازې یو اټکل دی، او په اصل کې یې د پېژندلو معیار له باتجربه استاد نه په زده کړه پورې اړه لري.

۳ قاعده: ادغام صغیر مثلین: که چیرته میم ساکن وي نو باید وکتل شي چې وروسته ترېنه کوم توری دی؟ که له هغه نه وروسته بل میم وي ادغام کېږي، یعنې دواړه میمونه یو کېږي او لکه د یو مشدد میم غوندې پر هغوی غنه کېږي، [1] لکه: ((اِلَيْكُمْ مُرْسَلُوْنَ)).دې ته ((ادغام صغیر مثلین)) وایي.

شفوي اخفاء: کله چې له ساکن میم نه وروسته د ((ب)) توری وي، په دې صورت کې له غنې سره اخفاء هم کېږي، او د دې اخفاء

---

[1] حقیقة التجوید

Download more from Libtoon.com

معنا دا ده چې د دې د اداء کولو پر مهال د شونډو وچې برخې په ډيرې نرمۍ او کمال سره يو له بل سره ونښلوي، د غنې صفت د يو الف په اندازه اوږد او د پوزې له خيشوم څخه يې اداء کړي، بيا د شونډو له جداکيدو نه مخکې د شونډو لندې برخې په سختۍ سره وصل او د ((ب)) توری ادا کړي،[1] لکه: ((مَنْ يَعْتَصِمْ بِاللهِ)). او دېته ((شفوي اخفاء)) وايي.

کله چې له ساکن ميم نه وروسته له ((ميم او باء)) نه پرته نور توري راشي، ميم اظهار کېږي، يعنې پرته له غنې له خپل مخرج نه ظاهر کېږي، لکه: ((أَنْعَمْتَ))، او دېته ((شفوي اظهار)) وايي.

توجه: ځيني حافظان د اخفاء او اظهار په دې قاعده کې د ((ب، و، ف)) درې توري هم شريک بولي، او دا قاعده يې د ((بوف)) قاعدې په نوم نومولې ده، توضيح يې دا ده چې ځيني په درې واړو توريو کې اخفاء کوي، او ځيني بيا په درې واړو کې اظهار کوي او ځيني يې ساکن ميم ته چې د دې توريو په خواکې راغلی يو ډول حرکت ورکوي لکه: ((عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ))، ((يَمُدُّهُمْ فِي)) دا ټول امور د قاعدې خلاف دي، لمړی او دريم قول خو کاملاً غلط او دويم قول ضعيف دی.[2]

---

[1] جهد المقل

[2] درة الفريد

Download more from Libtoon.com

✍ پوښتنې

۱- په کوم حالت کې د میم توری د غنې د توري په نامه یادیږي؟

۲- د غنې اندازه څومره ده؟

۳- ادغام صغیر مثلین تعریف کړئ.

٤- شفوي اخفاء له مثال سره وپیژنئ.

٥- شفوي اظهار کوم دی؟ په یو مثال کې یې واضح کړئ.

٦- د ((بوف)) په نوم قاعده په بشپړ ډول تشریح کړئ.

Download more from Libtoon.com

✍ تمرين

الف) په لاندې آيتونو کې د ميم حکم بيان کړئ:

١- يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَ

٢- مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ

٣- لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ

٤- لَهُمْ فِيهَا

٥- مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ

ب) په لاندې آيتونو کې ((م)) اظهار کيږي که اخفاء:

١- كَلْبُهُمْ بَاسِطٌ

٢- مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ

٣- اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ

Download more from Libtoon.com

حفظ كرئ:

سورة المدثر (٣٢-٥٦) آيتونه

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

كَلَّا وَٱلْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَٱلَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴿٣٣﴾ وَٱلصُّبْحِ إِذَآ أَسْفَرَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهَا لَإِحْدَى
ٱلْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾ لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾
كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾ إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٩﴾ فِى جَنَّٰتٍ
يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِى سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوا۟ لَمْ
نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ ٱلْمِسْكِينَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا
نَخُوضُ مَعَ ٱلْخَآئِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٤٦﴾ حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا
ٱلْيَقِينُ ﴿٤٧﴾ فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمْ عَنِ ٱلتَّذْكِرَةِ
مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيدُ
كُلُّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ
ٱلْءَاخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿٥٥﴾ وَمَا
يَذْكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ ٱلتَّقْوَىٰ وَأَهْلُ ٱلْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

Download more from Libtoon.com

نهم لوست

د تنوین او ساکن او مشدد نون احکام

لکه څرنګه مو چې د شپږم لوست په پیل کې ولوستل، تنـوین د ساکن نون په حکم کې داخل دی (په ذهن کې د لاښه راتلو لپـاره یو ځل بیا نوموړی بحث مطالعه کړئ)؛ اما په لاندې احکامو کې د آسانۍ په موخه له تنوین نه هم یادونه کیږي:

۱ قاعده: که چیرته نون مشدد وي په هغه کې غنه ضـرور ده، او په دې حالت کې یې لکه د مشدد میم غوندې د غنې توری نوموي، (د اتم لوست لمړۍ قاعده بیاځلي وګورئ).

تنوین او ساکن نون څلور حکمونه لري چـې عبـارت دي لـه: اظهار، ادغام، اقلاب، اخفاء.

۱- اظهار: اظهار د ادغام عکس او د ښکاره کولو پـه معنـا دی، کله چې له تنوین او ساکن نون نه وروسته د حلقـي توریـو څخـه کوم توری راشي، دلته نون اظهار کیږي، یعنې غږ پوزې ته نه وړي او غنه هم نـه کـوي لکـه: ((أَنْعَمْتَ، سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ)) او دا اظهـار د ((حلقي اظهار)) په نوم یادوي او حلقي توري (یا د اظهـار تـوري)

Download more from Libtoon.com

شپږ دي چې په دې شعر کې راټول شوي دي:

حلقي توري شپږ دي په رښتيا
همزه هاء عين او حاء غين او خاء

۲- ادغام: يعنې د يو توري داخلول په بل توري کې، د ادغام توري شپږ دي چې د ((يَرْمَلُون)) په کلمه کې راټول شوي دي، هر وخت چې د تنوين او ساکن نون څخه وروسته يو د شپږو توريو د يرملون (ي،ر،م،ل،و،ن) څخه راشي، په هغه کې ادغام کېږي يعنې نون خپل مابعد توري باندې تبديلېږي او بيا دواړه توري په يو مشدد توري باندې بدلېږي لکه: ((مِنْ لَّدُنْهُ)). په دې مثال کې نون په لام باندې تبديل شوی او بيا دواړه لامونه سره ادغام شوي او په يو توري باندې تبديل شوي دي، لکه څرنګه چې په لوستلو کې يوازې لام ظاهر کېږي ((مِلَّدُنْـه))، که څه هم په ليکلو کې نون هم پاتې دی خو ولې تلفظ يې نه کېږي.

د ((يرملون)) د شپږو توريو په منځ کې دا توپير شته چې په څلورو توريو د دوی کې چې د ((ينمو)) په کلمه کې راټول شوي، غنه هم کېږي او دا غنه لکه د مشدد نون د غنې غوندې اوږده لولې، لکه: ((مَنْ يُؤْمِن، بَرْقٌ يَجْعَلُون)) او دې ته ((ادغام مـع الغنـه))

Download more from Libtoon.com

وايي؛ او په دوو نورو توريو ((ر،ل)) کې غنه نه کېږي لکه:

((مِنۡ رَّبِّكُمۡ، مِنۡ لَّدُنۡهُ)) د دې کلمو په تلفظ کې نوکي (لږ غوندې) اواز هم پوزې ته نه ورننوځي، په دې صورت: ((مِرَّبِّكُمۡ، مِلَّدُنۡهُ)) او دې ته ((پرته له غنې ښخه ادغام)) وايي. د غنې او ادغام معنا په اتم لوست کې تیره شوې ده.

توجه: د ((يرملون)) په توريو کې د ادغام لپاره شرط دا دی چې ساکن نون او د ((يرملون)) د ادغام توری په یوه کلمه کې سره نه وي، او کنه نو د ادغام پر ځای بیا اظهار کېږي او هغه د ((مطلق اظهار)) په نوم نوموي، لکه: ((دُنۡيَا، قِنۡوَان، صِنۡوَان، بُنۡيَان))[1] په ټول قرآن کې يوازې همدا څلور کلمې دي چې دا قاعده پرې اجرا کېږي.

۳- اقلاب: يعنې د يو توري بدلول په بل توري باندې، هرکله چې د تنوين او ساکن نون ښخه وروسته د ((ب)) توری راشي، تنوين او ساکن نون په خالص ((م)) باندې تبديلېږي له غنې او اخفا سره لوستل کېږي، لکه: ((مِنۡ بَعۡدِ، سَمِيۡعٌۢ بَصِيۡرٌ))، او د قرآن په ځينو نسخو کې د سهولت او آسانۍ لپاره له دا ډول تنوين او

---

[1] ښکه ادغام د غږ د سپکوالي او آسانۍ لپاره دی، او په دې څلورو کلمو کې ادغام د غږ د دروندوالي سبب کېږي.

Download more from Libtoon.com

ساکن نون څخه وروسته وروکی میم هم لیکي لکه دا ډول: ((مِنۢ مِّ بَعۡدِ))، او دا بدلول د ((اقلاب یا قلب)) په نوم یادوي، او د میم د اخفا مطلب او د اداء کولو طریقه یې کښې مې د ((شفوي اخفا)) په ډول ده. د اتم لوست درېيمې قاعدې ته مراجعه وکړئ.

٤- اخفاء: یعنې پټ لرل، هر کله چې له تنوین او ساکن نون څخه وروسته د هغو دیارلسو توریو څخه پرته چې د ((اظهار، ادغام او قلب)) په احکامو کې تیر شول (یعنې د حلقي، یرملون او باء له توري څخه پرته)) کوم بل توری راشي دلته نو تنوین او ساکن نون په اخفا او غنې سره لوستل کېږي، او د اخفاء توري پنځلس دي چې عبارت دي لـه: ((ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ف، ق، ک))، دا چې الف له ساکن نون څخه وروسته نه راځي ځکه نو د دې توریو په ډله کې رانغی.[1]

د دې اخفاء مطلب دا دی چې تنوین او ساکن نون له خپل اصلي مخرج (د ژبې څوکه او تالو)) څخه لرې وساتي، غږ په خیشوم ((د پوزې خالیگاه)) کې داسې پټ کړي چې نه ادغام وي او نه اظهار، بلکې د اظهار او ادغام ترمنځ حالت وي، یعنې نه لکه د اظهار غوندې د ژبې سر له تالو سره ولږوي او نه لکه د ادغام

[1] درة الفرید

غونډې د مابعد توري له مخرج څخه اداء شي، بلکې د ژبې له دخالت نه پرته او پرته له تشدید څخه، یوازې د غنې صفت د یو الف په اندازه د پوزې له خالیګاه څخه اداء کړي؛ او ترڅو پورې چې له ماهر استاد څخه د اخفاء تمرین میسر کېږي، فقط له غنې سره دې لولي، ولې چې دواړه یو له بل سره ورته دي، لکه: ((أَنذَرْتَهُم، قَوۡمًا ظَلَمُوا)) او د دې نون اخفاء ته ((حقیقي اخفاء)) وایي.

[د تنوین او ساکن نون څلورګوني احکام یې د شعر په ډول په لاندې نظم کې راوړي دي:

د تنوین او ساکن نون حکمونه دي څلور
عمل چې وشي غږ به ښه شي زما د ورور
په حلقي توریو کې اظهار او ادغام په یرملون کې
د باء اقلاب د میم په لور او اخفاء په پاتې نور[1]][2]

[1] دا چې په کتاب کې شعر په فارسي ژبه راوړل شوی ؤ او ماته په دې هکله پښتو نظم نه ؤ معلوم، نو ماته یې له نثري ژباړې څخه نظمي ژباړه غوره ښکاره شوه، او زیات کوښښ مې د نظم مفهوم ته اړولي نه کټ مټ هغو کلماتو ته، نو د نظم د خاموالي له امله هیله کوم چې د دې باب مخ لاري مې تر نیوکې لاندې رانه ولي. (ژباړونکي)

[2] پورتنی مطلب د بیا لیکونکي له خوانه ورزیات شوی دی.

Download more from Libtoon.com

پوښتنې

١- څه وخت نون له غنې سره لوستل کېږي؟

٢- ساکن نون څومره احکام لري، نومونه يې واخلئ؟

٣- حلقي اظهار له مثال سره وپېژنئ؟

٤- د يرملون توري د ادغام او غنې له اړخه څه توپير سره لري؟

٥- د ((يرملون)) په توريو کې د ادغام شرط څه دی؟

٦- مطلق اظهار تعريف کړئ.

٧- اقلاب او قلب څه معنا لري؟

٨- حقيقي اخفاء کومه ده؟

٩- د اخفاء د توريو نومونه واخلئ.

Download more from Libtoon.com

تمرين

(الف) په لاندې آيتونو کې حلقي اظهار، ادغام مع الغنه او غير الغنه وښاياست:

۱- إِذَآ أُلۡقُواْ فِيهَا سَمِعُواْ لَهَا شَهِيقًا وَهِيَ تَفُورُ

۲- أَفَمَن يَمۡشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجۡهِهِۦٓ

۳- وَجَعَلۡنَٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيَٰطِينِ

(ب) په لاندې آيت کې د حلقي اظهار او له غنې نه پرته ادغام يو، يو ځای شته، تاسو يې پيدا کړئ:

۱- وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكۡمًا لِّقَوۡمٍ يُوقِنُونَ

(ت) په لاندې آيت کې د شفوي اظهار دوه ځايونه شته دي، مشخص يې کړئ:

۱- وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ

Download more from Libtoon.com

حفظ كرێ:

سورة القيامة (١-١٩) آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَآ أُقۡسِمُ بِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴿١﴾ وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾
أَيَحۡسَبُ ٱلۡإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجۡمَعَ عِظَامَهُۥ ﴿٣﴾ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن
نُّسَوِّيَ بَنَانَهُۥ ﴿٤﴾ بَلۡ يُرِيدُ ٱلۡإِنسَٰنُ لِيَفۡجُرَ أَمَامَهُۥ ﴿٥﴾ يَسۡـَٔلُ
أَيَّانَ يَوۡمُ ٱلۡقِيَٰمَةِ ﴿٦﴾ فَإِذَا بَرِقَ ٱلۡبَصَرُ ﴿٧﴾ وَخَسَفَ ٱلۡقَمَرُ
﴿٨﴾ وَجُمِعَ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذٍ أَيۡنَ
ٱلۡمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡمُسۡتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّؤُاْ
ٱلۡإِنسَٰنُ يَوۡمَئِذِۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ ٱلۡإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ
بَصِيرَةٞ ﴿١٤﴾ وَلَوۡ أَلۡقَىٰ مَعَاذِيرَهُۥ ﴿١٥﴾ لَا تُحَرِّكۡ بِهِۦ لِسَانَكَ
لِتَعۡجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيۡنَا جَمۡعَهُۥ وَقُرۡءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأۡنَٰهُ
فَٱتَّبِعۡ قُرۡءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾

Download more from Libtoon.com

لسم لوست

د مدي توريو احكام (۱)

مدي توري[۱] عبارت دي له: ساكن الف ماقبل مفتوح، ساكن واو ماقبل مضموم او ساكنه ياء ماقبل مكسور څخه. (په دوهم لوست كې لومړي مخرج ته رجوع وكړئ).

د ويلو وړ ده هغه زير او زور چې د وړوكي الف[۲] په ډول ليكل كيږي او همدارنګه معكوس پيښ[۳] په مدي توريو كې داخل دي، څكه هغه زور چې د وړوكي الف په شكل كې دی د مدي الف غږ لري، او هغه زير چې د وړوكي الف په شكل دی د مدي ياء غږ، او سرچپه پيښ د مدي واو غږ لري، مونږ به د قاعدو په بيان كې دا ټول د مدي توري تر عنوان لاندې يادوو.

۱ قاعده: متصل مد: كله چې د مدي توري نه وروسته همزه راشي او مدي توری او همزه دواړه په يوه كلمه كې وي په دې

---

[۱] مد د غږ د كش كولو په معنا دی او قصر يې ضد دی.

[۲] لكه د اسحق او اسمعيل په كلمو كې چې ليكل كيږي.

[۳] چې د كامې او يا برګول (،) په شكل ليكل كيږي. (ژباړن)

Download more from Libtoon.com

صورت کې مدي توری درې یا څلور الفه کش کېږي،[1] لکه: ((سَوَاء، سُوْء، سِيئَتْ)) او دې ته ((متصل یا واجب مد)) وايي. او د الف د اندازې د معلومولو طريقه د اتم لوست په لومړۍ قاعده کې تیره شوه، په هماغه طریقه ګوتې خلاصې یا بندې کړئ.

نکته: د پوهېدنې وړ ده چې د مد تاکل شوې اندازه، د مدي توري د خپل اصلي مقدار نه علاوه په نظر کې ونیول شي، د مثال په ډول که د ((جَاء)) په کلمه کې مد ونشي، بیا هم پخپله الف په طبیعي ډول یو څه اندازه کش کېږي،[2] نو د مد کولو اندازه د مدي توري په اصلي مقدار باندې زیاتېږي.

۲ قاعده: منفصل مد: که له مدي توري نه وروسته همزه راشي او مدي توری او همزه دواړه په یوه کلمه کې نه وي، بلکې مدي توری د لومړۍ کلمې په آخر کې او همزه د دویمې کلمې په سر کې ځای ولري، په دې صورت کې هم مدي توری د درې یا څلور الفه په اندازه کش کېږي،[3] لکه: ((اِنَّا اَعْطَيْنَا، الَّذِيْ اَطْعَمَهُم،

---

[1] د تجوید علما د متصل مد د کش کولو په میزان کې د نظر اختلاف لري، مشهوره دا ده چې درې الف- شپږ حرکته، کش کړای شي. (ب)

[2] هر الف د دوو زوورونو له حرکت سره مساوي دی. (ب)

[3] دا اندازه ((توسط)) پورې مخصوص ده، ځکه په متصل او منفصل مد کې ((طول)) او ((قصر)) وجود نه لري، بلکې تل په توسط سره لوستل کېږي. (ابن ضیا).

Download more from Libtoon.com

﴿قَالُوٓاْ آمَنَّا﴾، او دې ته ((منفصل يا جائز مد))[1] وايي.

که څوک نشي کولای چې متصل او منفصل مدونه سره بيل کړي، د انديښنې ځای نه دی ځکه چې دواړه په يوه طريقه سره لوستل کېږي.[2]

يادوونه: منفصل مد هغه وخت اجرا کېږي چې دواړه کلمې سره وصل ولولې، او احياناً که چېرته په لومړۍ کلمې وقف وشي او ځانته ځانته ولوستل شي، نو مد نه کېږي.

۳ قاعده: کلمي لازم مد: کله چې په يوه کلمه کې له مدي توري نه وروسته کوم ساکن توری راشي چې سکون يې اصلي او ذاتي وي نه عارضي، يعني دا سکون د وقف له امله نه وي پيدا شوی، په دې صورت کې هم مدي توری کش کېږي او هغه ته ((مخفف کلمي لازم مد)) وايي، او د کش کولو اندازه يې درې الفه ده، لکه: ((آلْٰنَ))، په دې کلمه کې لومړی توری ((همزه)) دی او دويم توری ((الف)) مدي توری دی او دريم توری ساکن ((لام)) دی او ښکاره ده چې سکون يې د وقف له امله نه دی، ځکه که وقف پرې ونشي بيا هم ساکن لوستل کېږي، پس د ((الف)) په

---

[1] جائز مد په دې دليل ورته وايي چې ځينې امامان يې واجب نه بولي. (ب)

[2] د منفصل مد د پېژندلو طريقه دا ده چې په رسم الخط کې له مدي توري نه وروسته همزه د الف په ډول ليکل کېږي، (کله چې کلمات جدا وي)، د ((هولاء)) د کلمې نه پرته. (ابن ضياء، ب)

Download more from Libtoon.com

توري باندې مد کېږي.

٤ قاعده: مثقل کلمي لازم مد: کله چې په یوه کلمه کې له مدي توري نه وروسته کوم مشدد توری راشي، په دې صورت کې مدي توری د درې الفه په اندازه کش کېږي، لکه: ((ضَآلِّين)) چې په دې کلمه کې ((الف)) مدي توری دی، وروسته ترېنه د ((لام)) توری دی چې شد لري؛ ځکه نو مدي توری کش کېږي، او دا هم د لازمو مدونو له ډولونو څخه دی او دې ډول مد ته ((مثقل کلمي مد)) وايي.[1]

پوښتنې

١- د مدي توريو نومونه واخلئ.

٢- ((متصل مد)) کوم دی؟ په یو مثال کې يې واضحه کړئ.

٣- ((منفصل مد)) له مثال سره وپېژنئ.

٤- ((مخفف کلمي لازم مد)) تعریف کړئ او د مد اندازه يې ووایاست.

٥- ((مثقل کلمي لازم مد)) تعریف کړئ.

---

[1] که چیرته لازم مد د قرآن په کلماتو کې راغلی وي هغه ته ((کَلِمي))، او که په مقطعاتو توریو کې وي هغه ته ((حرفي)) وايي؛ او که د مد سبب سکون وي هغه ته ((مخفف)) او که تشدید وي هغه ته ((مثقل)) وايي. (ب)

Download more from Libtoon.com

تمرین

(الف) په لاندې آیتونو کې د مد ډولونه مشخص کړئ:

۱- یَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ

۲- وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ ٱلۡخَآئِضِينَ

۳- ٱلۡحَآقَّةُ ﴿١﴾ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ﴿٢﴾

(ب) په لاندې آیتونو کې د کلمي لازم مد ډول (نوع) بیان کړئ:

۱- وَٱلصَّٰٓفَّٰتِ صَفّٗا

۲- غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ

Download more from Libtoon.com

حفظ کرێ:

سورة القيامة (٢٠-٤٠) آيتونه

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ ٱلْآخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوهٌ
يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ
﴿٢٤﴾ تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾ كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾
وَقِيلَ مَنْ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ ٱلْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَٱلْتَفَّتِ ٱلسَّاقُ
بِٱلسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ
﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ﴿٣٣﴾
أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰٓ ﴿٣٥﴾ أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ
أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ
عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ ﴿٣٩﴾
أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْـِۧىَ ٱلْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾

Download more from Libtoon.com

يوولسم لوست

د مدي توريو احكام (٢)

١ قاعده: مثقل او مخفف حرفي لازم مد: د قرآن کريم د ځينو سورتونو په شروع کې داسې کلمې شتون لري چې هر يو توری يې ځانته ځانته تلفظ کېږي، هغو ته ((مقطعه توري)) وايي،[1] د مثال په ډول د بقره د سورت په پيل کې ((الٓمٓ)) راغلی چې داسې يې وايو: ((الف- لام- ميم)). د مقطعه توريو له ډلې څخه يو ((الف)) دی چې دلته د هغه په باره کې هېڅ ډول قاعده نشته، (ځکه چې مدي توری نه لري) او پاتې نور مقطعه توري په دوه ډوله دي:

لمړی هاغه چې له درې توريو څخه تشکيل شوي دي لکه: ((لام، ميم، قاف، نون))

[1] په قرآن کې هغه سورتونه چې په مقطعه توريو سره پيل شوي ټول نه ويشت (٢٩) دي چې له څوارلسو توريو څخه تشکيل شوي او په دې عبارت کې: ((صله سحير امن قطعک)) راټول شوي دي؛ او د قرآن د دې څوارلسو مقطعه توريو له ډلې څخه، پنځه توري ((حي طهر)) د طبيعي مد او اوه توري ((سنقص لکم)) د لازم مد او د ((ع)) يو توری د لين مد درلودونکي دي، او په ((الف)) کې مدي توری نشته. (منظومه تحفة الاطفال، للجمزوري) (ب).

Download more from Libtoon.com

دویم هاغه چې له دوو توریو څخه جوړ شوي دي لکـه: ((طـا، ها)).

دلته د دوو توریو لرونکو مقطعه توریو په باره کـې هـم کومـه قاعده نشته، او هاغه چې د دریوو توریو لرونکـي دي پـه هغـوی باندې مد کېږي، او د هغوی د مد اندازه هم درې الفه ده او دې مد ته ((حرفي لازم مد)) وايي. بیا د درې حرفي مقطعـاتو لـه جملـې څخه هاغه توري چې د لوستلو په وخت کـې يـې پـه وروسـتي توري باندې شد وي، د هغوی مد ته ((مثقل حرفي لازم مد)) وايي، مثلاً په ((الٓمٓ)) کې هرکله چې ((لام)) له ((میم)) سره ولوستل شي په آخر کې تشدید پیدا کېږي؛ او هاغه چې په آخر کې يې تشـدید نه وي هغو ته ((مخفف حرفي لازم مد)) وايي لکه: ((میم، قاف)).

۱ یادوونه: د درې توریو لرونکـو مقطعـاتو لـه ډلـې نـه هاغـه (توري) چې مد او کش کول يې لازمي دي، په دې سبب (يـې مـد لازم) دی چې په زیاترو د دوی کې وسطي تـوری، مـدي تـوری دی، چې په ځینو ځایونو کې وروسته ترېنه ساکن توری راغلی، د مثال په ډول په ((میم)) کې د ((ي)) توری له مدي توریو څخـه دی او وروسته ترېنه ساکن ((م)) راغلی دی؛ او په ځینو ځـایونو کـې (وروسته ترېنه) مشدد توری راغلی، لکه پـه ((لام)) کـې ((الـف))

Download more from Libtoon.com

مدي توری دی او وروسته ترېنه مشدد ((م)) راغلی، او ښکاره ده چې په داسې ځايونو کې په مدي توري باندې تل مد کېږي، په دې اساس په دې توريو باندې مد کول، د کلي او عمومي قاعدې سره موافق دي.

د لين لازم مد: په درې حرفي مقطعاتو کې چې د دوی وسطي توری له مدي توريو څخه نه وي (بلکي د لين توری وي) په هغو باندې مد کول له عمومي قاعدې سره موافق نه دی، په همدې سبب که چيرې په داسې ځايونو کې مد ونشي بيا هم صحيح دی؛ اما غوره دا ده چې دلته هم مد وشي او دې ته لازم لين مد وايي، لکه: په ((كٓهيعٓصٓ)) کې په ((عين)) باندې.

۲ قاعده: عارض مد: که چيرې له مدي توري نه وروسته ساکن توری راشي چې سکون يې اصلي نه بلکې عارضي وي، يعنې د وقف له امله هغه ساکن شوی وي (او دا ساکن د هغه ساکن خلاف دی چې د لسم لوست د درېيمې قاعدې په پيل کې بيان شو)، دلته مد کول او نه کول په دې توريو باندې جايز او اختياري دی؛ اما مد کول غوره دي، لکه: ((الحمد لله رب العالمين))، او دې ته ((عارض او وقفي مد)) وايي.

Download more from Libtoon.com

د عارض مد د اندازې د کش کولو لپاره درې صورتونه جایز دي، لومړی دا چې د درې الف (= شپږ حرکته) په اندازه کش کړای شي او دې ته ((طول)) وايي؛ دویم دا چې د دوو الف (= څلور حرکته) په اندازه کش کړای شي او دې ته ((توسط)) وايي او دا هم جایز دی چې اصلاً مد ونکړي، یعنې یوازې د یو الف (=دوه حرکته) په اندازه يې ولولي، ځکه له دې نه په کمې اندازې سره د توري وجود له منځه ځي (لکه چې په راتلونکي درېيم نمبر یادوونه کې به يې ولولئ) او دې ته ((قصر)) وايي؛ له پورتنیو درې ګونو ډولونو څخه دلته ((طول)) افضل دی، بیا ((توسط)) او وروسته ((قصر)). او دا مطلب هم په یاد ولرئ چې له دې درېوو ډولونو څخه هره طریقه چې قاري اختیاروي د تلاوت تر پایه دې د همغې طریقې مطابق ولولي، دا صحیح نده چې یو ځای کې ((طول)) بل ځای ((توسط)) او په بل ځای کې ((قصر)) ولولي، ځکه داسې بې خونده راځي (عارض مد هم د جایز مد له ډولونو څخه دی) او هر چیرته چې پخپله په مدي توري باندې وقف وشي هلته دا ((عارض)) مد صحیح ندی، لکه څرنګه چې ځینې د ((غفوراً، شکوراً)) په کلمو باندې په وقف کولو سره مد کوي، چې په قطعي ډول غلط کار دی.

Download more from Libtoon.com

۳ یادوونه: د لین عارض مد: هماغسې چې عارض مد په مدي توري باندې جایز دی په لین توري، یعنې ساکن واو او ساکنه یاء چې ماقبل یې مفتوح وي، هم جایز دی،[1] لکه د ((والصَّیْفْ)) یا ((من خَوْفْ)) په کلمو باندې وقف کول، دلته ((طول))، ((توسط)) او ((قصر)) درې واړه مدونه جایز دي؛ اما دلته ((قصر)) افضل دی، بیا ((توسط)) او وروسته ((طول))، او دې مد ته ((د لین عارض مد)) وایي.

٤ یادوونه: د لین توري په باره کې د همدې لوست د لومړي نمبر یادوونې په ضمن کې یوه قاعده ((د لین لازم مد)) بحث بیان شو، هلته مراجعه وکړئ، ځکه هلته د عین[2] هاغه توری چې له مقطعه توریو څخه دی، ((یاء)) یې د لین توری دی.

٥ یادوونه: په دې باید پوه شو چې د مد څومره ډولونه چې تر اوسه پورې بیان شول دا ټول د ((فرعي مد)) په نوم یادیږي، ځکه د توري له اصل (یو الف کش کول) څخه (د مد په واسطه، په آواز کې) اضافه دي؛ د ((اصلي)) مد په نوم یو بل ډول مد هم شته او هغه ته ((ذاتي او طبیعي مد)) هم وایي، یعنې د الف، واو او یاء

[1] په پنځم لوست کې دریم نمبر صفت ته مراجعه وکړئ.

[2] لکه د هغه عین غوندې چې په حم عسق کې واقع دی، هغه ته ((د لین لازم مد)) وایي، په هغه کې ((طول)) اولی او ((قصر)) ضعیف دی. (ابن ضیاء)

Download more from Libtoon.com

هماغه اندازه چې که له هغه نه په کمې اندازې سره یې ولولي، په کلي ډول د توري وجود له منځه ځي، او پر ځای یې یوازې زیر، پېښ او زور پاتې کېږي، او دلته د دې مد په باره کې کومه د یادونې وړ قاعده نشته.

۳ قاعده: دا قاعده د مدي توريو له منځه يوازې الف پورې اړه لري، او هغه دا چې معمولاً الف پخپله باريک او نازک اداء کېږي؛ اما کله چې له هغه نه مخکې داسې توری راشي چې هغه توری ډک لوستل کېږي، يعنې د مستعليه توريو څخه کوم يو وي، يا مخکې ترېنه د ((راء)) توری وي چې د فتحې (زور) په سبب ډک لوستله کېږي، يا د ((لام)) توری وي لکه د ((الله)) د لفظ د لام غوندې، کله چې مخکې ترېنه زور يا پېښ وي، په دې ټولو صورتونو کې به تبعاً الف هم ډک او باحجمه اداء کېږي، لکه: ((قَآئِمًا، خَاشِعًا، طَآئِفَة، صَبْرًا)).

باید پوه شو چې د دې توريو (د مستعليه، راء او لام توري) په ډک او تفخيم لوستلو کې توپير شته دی، څکه نو دا توپير د هغه الف د ډک لوستلو په باره کې چې د دې توريو څخه وروسته راغلی هم مراعات کېږي، په دې اساس (د تفخيم له پلوه) په لومړۍ درجه کې د ((الله)) د اسم لام دی، له دې نه وروسته ((طاء))

Download more from Libtoon.com

بیا ((صاد)) او ((ضاد)) او دوی پسې ((ظاء)) او ورپسې ((قاف)) او بیا ((غین)) او ((خاء)) او له دوی نه وروسته ((راء)).[۱]

د مد ډولونه:



[۱] حقیقة التجوید ص۲۹

Download more from Libtoon.com

پوښتنې

۱- مقطعه توري کوم توريو ته ويل کېږي، ډولونه يې ذکر کړئ.

۲- حرفي لازم مد تعريف کړئ او ډولونه يې له مثال سره وليکئ.

۳- په درې حرفي مقطعاتو کې د مد سبب څه دی؟

٤- وقفي يا عارض مد له مثال سره تعريف کړئ.

٥- د لين لازم مد کوم دی؟

٦- طول، توسط او قصر څه معنا لري؟ او په وقفي مد کې له دې دريو طريقو څخه کومه يوه بهتره ده؟

۷- د لين عارض مد کوم دی؟

۸- اصلي او فرعي مد تعريف کړئ.

۹- د فرعي مد ډولونه کوم دي، نمونه يې واخلئ.

Download more from Libtoon.com

✍ تمرين

(الف) په لاندې مقطعاتو توريو کې، د حرفي مـد ډول او سـبب بيان کړئ:

۱- نٓ ۚ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ۝١

۲- طسٓمٓ ۝١ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ۝٢

۳- يسٓ ۝١ وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْحَكِيمِ ۝٢

(ب) په لاندې آيتونو کې د لين مد او وقفي مد تشخيص کړئ:

۱- لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ ۝١

۲- وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍۭ ۝٤

۳- كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْأَيَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ۝٣٢

Download more from Libtoon.com

حفظ کړئ:

سورة الانسان (١-١٦) آيتونه

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

هَلْ أَتَىٰ عَلَى ٱلْإِنسَـٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْـًٔا
مَّذْكُورًا ﴿١﴾ إِنَّا خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ
نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَـٰهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا ﴿٢﴾ إِنَّا هَدَيْنَـٰهُ ٱلسَّبِيلَ
إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴿٣﴾ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَـٰفِرِينَ
سَلَـٰسِلَا۟ وَأَغْلَـٰلًا وَسَعِيرًا ﴿٤﴾ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ
مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴿٥﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ
بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ﴿٦﴾ يُوفُونَ بِٱلنَّذْرِ
وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُۥ مُسْتَطِيرًا ﴿٧﴾ وَيُطْعِمُونَ

Download more from Libtoon.com

ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا
نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمۡ جَزَآءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾
إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوۡمًا عَبُوسًا قَمۡطَرِيرًا ﴿١٠﴾ فَوَقَىٰهُمُ
ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمِ وَلَقَّىٰهُمۡ نَضۡرَةً وَسُرُورًا ﴿١١﴾ وَجَزَىٰهُم
بِمَا صَبَرُواْ جَنَّةً وَحَرِيرًا ﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى
ٱلۡأَرَآئِكِۖ لَا يَرَوۡنَ فِيهَا شَمۡسًا وَلَا زَمۡهَرِيرًا ﴿١٣﴾ وَدَانِيَةً
عَلَيۡهِمۡ ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتۡ قُطُوفُهَا تَذۡلِيلًا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ
عَلَيۡهِم بِـَٔانِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكۡوَابٍ كَانَتۡ قَوَارِيرَا۠ ﴿١٥﴾
قَوَارِيرَاْ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقۡدِيرًا ﴿١٦﴾

Download more from Libtoon.com

دوولسم لوست

د همزه ځيني احكام

د همزه ځينې قاعدې له عربي علومو سره د بلدتيا نه پرته د پوهې وړ نه دي، په دې اساس يوازې د دوو مواردو په يادوونه باندې اكتفا كوو، ځكه چې ټول قرآن لوستونكي ورته اړتيا لري.

١- د فصلت د سورت په (٤٧) آيت كې د ((ءَاَعۡجَمِيٌّ)) كلمه راغلې ده (يعني دوه مفتوحه همزې يو دبل ترڅنګ راغلي)، په دې كلمه كې دويمه همزه لږ په نرمۍ اوسهولت سره اداء كيږي، او دې عمل ته ((تسهيل)) وايي.

٢- د حجرات د سورت په (١١) آيت كې د ((بِئۡسَ الِاسۡمُ الۡفُسُوقُ)) جمله راغلې ده، د لوستلو طريقه يې دا ده چې په ((بِئۡسَ)) كې د ((س)) توری مفتوح ولوستل شي او د راتلونكې كلمې له هيڅ توري سره وصل نشي، بيا هغه لام چې له دې (د سين توري) څخه وروسته راغلی، هغه ته به كسره وركول كيږي او له ورپسې د سين توري سره به وصل شي، بيا دې د ميم توری د راتلونكې كلمې د لام

Download more from Libtoon.com

له توري سره وصل او ودې لولي، په دې ډول: ((بِئْسَ لِسْمُ الْفُسُوقُ)).

مطلب دا چې د ((الاسم)) د ((ل)) نه مخکې او وروسته چې دوه همزې د الف په شکل کې ليکل شوي په کلي ډول حذف او نه لوستل کيږي.

✍ پوښتنې

۲- چيرته همزه تسهيل کيږي؟

۳- د ((بئس الاسم)) په جمله کې د همزه د تلفظ طريقه څه ډول ده؟

✍ تمرين

(الف) په لاندې آيتونو کې د همزه حکم بيان کړئ:

۱- ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ ۚ بَنَىٰهَا

۲- ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ

۳- أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ

Download more from Libtoon.com

حفظ کړئ:

سورة الانسان (١٧-٣١) آیتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَيُسۡقَوۡنَ فِيهَا كَأۡسٗا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴿١٧﴾ عَيۡنٗا فِيهَا
تُسَمَّىٰ سَلۡسَبِيلٗا ﴿١٨﴾ ۞وَيَطُوفُ عَلَيۡهِمۡ وِلۡدَٰنٞ مُّخَلَّدُونَ
إِذَا رَأَيۡتَهُمۡ حَسِبۡتَهُمۡ لُؤۡلُؤٗا مَّنثُورٗا ﴿١٩﴾ وَإِذَا رَأَيۡتَ ثَمَّ
رَأَيۡتَ نَعِيمٗا وَمُلۡكٗا كَبِيرًا ﴿٢٠﴾ عَٰلِيَهُمۡ ثِيَابُ سُندُسٍ
خُضۡرٞ وَإِسۡتَبۡرَقٞۖ وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٖ وَسَقَىٰهُمۡ رَبُّهُمۡ
شَرَابٗا طَهُورًا ﴿٢١﴾ إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمۡ جَزَآءٗ وَكَانَ
سَعۡيُكُم مَّشۡكُورًا ﴿٢٢﴾ إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ
تَنزِيلٗا ﴿٢٣﴾ فَٱصۡبِرۡ لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعۡ مِنۡهُمۡ ءَاثِمًا أَوۡ
كَفُورٗا ﴿٢٤﴾ وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا ﴿٢٥﴾

Download more from Libtoon.com

﴿٢٦﴾ طَوِيلًا لَيْلًا وَسَبِّحْهُ لَهُۥ فَٱسْجُدْ ٱلَّيْلِ وَمِنَ
يَوْمًا وَرَآءَهُمْ وَيَذَرُونَ ٱلْعَاجِلَةَ يُحِبُّونَ هَٰٓؤُلَآءِ إِنَّ
شِئْنَا وَإِذَا ۖ أَسْرَهُمْ وَشَدَدْنَآ خَلَقْنَٰهُمْ نَّحْنُ ﴿٢٧﴾ ثَقِيلًا
فَمَن ۖ تَذْكِرَةٌ هَٰذِهِۦ إِنَّ ﴿٢٨﴾ تَبْدِيلًا أَمْثَٰلَهُمْ بَدَّلْنَآ
أَن إِلَّآ تَشَآءُونَ وَمَا ﴿٢٩﴾ سَبِيلًا رَبِّهِۦ إِلَىٰ ٱتَّخَذَ شَآءَ
مَن يُدْخِلُ ﴿٣٠﴾ حَكِيمًا عَلِيمًا كَانَ ٱللَّهَ إِنَّ ۚ ٱللَّهُ يَشَآءَ
﴿٣١﴾ أَلِيمًۢا عَذَابًا لَهُمْ أَعَدَّ وَٱلظَّٰلِمِينَ ۚ رَحْمَتِهِۦ فِى يَشَآءُ

Download more from Libtoon.com

دیارلسم لوست

د وقف احکام

د تجوید فن په واقعیت کې د مخارجو او صفاتو له بحث څخه عبارت دی چې د الله تعالی په فضل سره په تیرو پاڼو کې د ضروت په اندازه ولیکل شو، او درې نور علمونه د دې فن بشپړوونکي دي چې د اوقافو علم، د قرائت علم او د رسم الخط علم څخه عبارت دي، د اوقافو د علم یو مبحث له مبحثونو څخه د وقف احکام دی، چې یو څه برخه به یې دلته بیان شي.

۱ قاعده: څوک چې د قرآن په معنا باندې نه پوهیږي په همغو ځایونو دې وقف وکړي چې په قرآن کریم کې نښاني شوي دي، د هغوی په منځ کې دې له ضرورت نه پرته وقف نه کوي، البته که د هغوی په منځ کې (نښې ته له رسېدو نه مخکې) ساه لنډه او قطع شي، په دې وخت کې مجبور دی او که احیاناً د مجبورۍ له امله یې وقف وکړ، باید هماغه کلمه چې وقف یې پرې کړی یا له هغې نه هم مخکې بیرته اعاده او له راتلونکې کلمې سره دې وصل کړي؛ په دې خبره پوهېدل چې له هماغې کلمې څخه یې ولولي یا

Download more from Libtoon.com

که له هغې نه مخکې څخه، په معنا باندې له پوهېدلو نه پرته مشکل دي؛ نو تر څو پورې چې څوک په معنا باندې د پوهېدلو توان نه لري په مشکوکو ځایونو کې دې له علماوو څخه تحقیق وکړي، په دې ډول مواردو کې څو مطلبونو ته پام اړول اړین دي:

لومړی مطلب دا چې مواظب دې وي چې هېڅ وخت د کلمې په منځ کې وقف ونه کړي، بلکې د کلمې له پای ته رسیدو نه وروسته دې وقف وکړي؛ باید پوه شي چې په حرکت باندې وقف کول غلط دي لکه څرنګه چې اکثره خلک داسې کوي، د مثال په ډول د تلاوت پر مهال د بقرې د سورت په ((بِمَآ أُنْزِلَ إِلَيْكَ)) کې د ((ک)) په توري باندې د یو چا ساه تنګېږي، دلته په کار ده چې د ((ک)) توری ساکن کړي د زور په تلفظ سره دې وقف نه کوي؛ همدارنګه د ساه له قطع کولو نه پرته هم وقف کول صحیح نه دی، لکه څرنګه چې ځیني خلک د آیت په پای کې ساکن توری لولي (یعنې توری ساکنوي) او د ساه له پرېکولو نه پرته ورپسې آیت پیلوي، دا کار هم د قانون خلاف دی. بل مطلب دا دی چې که د ضرورت له امله په کومه کلمه باندې وقف کوئ، په هماغه طریقه چې هغه کلمه لیکل شوې ده له هغه سره موافق وقف وکړئ، که څه هم د لوستلو په وخت کې په بله طریقه سره لوستل کېږي، د

Download more from Libtoon.com

مثال په ډول د ((آنَا)) په کلمه کې چې کوم الف له ((ن)) څخه وروسته راغلی په لوستلو کې نه تلفظ کېږي؛ اما که په دې کلمه باندې وقف کوي نو بيا به الف هم تلفظ کوي، او بيا چې کله دا کلمه بېرته اعاده کوي ترڅو يې له راتلونکې جملې سره وصل کړي، نو دا الف نه لوستل کېږي، پورتني مطلبونه ښه ياد کړئ.

يادوونه: د پورتنی قاعدې په پای کې مو واضحه کړه چې، کلمه چې په هر ډول باندې په قرآن کې ليکل شوي وي، د همغه شکل له مخې به وقف پرې کېږي، البته لاندينې ځايونه له دې قانون څخه مستثنا دي:

۱- ((اَوْ يَعْفُوَاْ)) د بقرې د سورت په ۳۱ رکوع کې ۲۳۷ آيت.

۲- ((اَنْ تَبُوا)) د مائدې د سورت په ۵ رکوع کې ۲۹ آيت.

۳- ((لِتَتْلُوَاْ)) د رعد د سورت په ٤ رکوع کې ۳۰ آيت.

٤- ((لَنْ نَدْعُوَاْ)) د کهف د سورت په ۲ رکوع کې ١٤ آيت.

۵- ((لِيَرْبُوَاْ)) د روم د سورت په ٤ رکوع کې ۳۹ آيت.

٦- ((لِيَبْلُوَاْ)) د محمد د سورت په ۱ رکوع کې ٤ آيت.

۷- ((نَبْلُوَاْ)) د محمد د سورت په ٤ رکوع کې ۳۱ آيت.

۸- ((ثَمُوْدَاْ)) په څلورو ځايونو کې، د هود، فرقان، عنکبوت او نجم په سورتونو کې.

Download more from Libtoon.com

۹- د ((قَوَارِيْرَاْ)) دويم مورد، د دهر د سورت په ۱ ركوع كې ۱٦ آيت.

په دې ټولو ياد شويو ځايونو كې د الف توری په هيڅ حالت كې نه لوستل كېږي، نه د وصل په حالت كې او نه د وقف په حالت كې؛ همدارنګه په لاندې ځايونو كې هم د وصل په حالت كې الف نه لوستل كېږي، اما د وقف په حالت كې لوستل كېږي:

۱- د ((لَٰكِنَّاْ)) كلمه، يوازې د كهف په سورت كې، ۳۸ آيت.

۲- د احزاب په سورت كې د ((الظُّنُوْنَاْ، الرَّسُوْلَاْ، السَّبِيْلَاْ)) كلمې.

۳- د دهر په سورت كې د ((سَلَاسِلَاْ)) او لومړنی ((قَوَارِيْرَاْ)) كلمه.

٤- په ټول قرآن كې د ((اَنَاْ))لفظ.

په پورتنيو ځايونو كې يوازې د وقف په حالت كې الف لوستل كېږي په استثنا د ((سلاسلا)) كلمې، كومه چې د يو روايت له مخې د وقف په حالت كې هم پرته له الف نه لوستل كېږي، يعنې ((سلاسل)).

۲ قاعده: پر كومه كلمه چې وقف صورت نيسي كه چيرې ساكنه وي نو په دې اړه د يادونې وړ كوم بحث نشته، اما كه

Download more from Libtoon.com

متحرکه وي او وقف پر متحرکه کلمه صورت نیسي، په درېوو طریقو باندې کولای شو وقف پرې وکړو چې عبارت دي له:

۱- اسکان: یعنې ساکن کول او له حرکت څخه یې را ایسارول.

۲- رَوم: یعنې د حرکت داسې ضعیف کول چې درېیمه برخه یې پاتې شي، او دا ډول وقف د فتحې په حرکت باندې سرته نه رسېږي، یوازې په ضمه او کسره باندې جایز دی؛ د مثال په ډول د ((بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ)) په پای کې د ((مِ)) کسره ډېره کمزورې ادا کړي چې غږ یې یوازې د هغو کسانو لپاره د اورېدنې وړ وي چې له قاري سره ډېر نژدې ناست وي، یا د ((نَسۡتَعِیۡنُ)) په کلمه کې په ((نُ)) باندې داسې وقف وشي چې پېښ یې ډېر کمزوری ادا شي، څرنګه چې د ((رَبِّ الۡعَالَمِیۡنَ)) په کلمه کې د ((نَ)) توری زور لري (مفتوح دی) نشو کولای په دې طریقه باندې وقف پرې وکړو.

۳- اشمام: یعنې د وروستي توري د حرکت ښکاره کول یوازې د شونډو په اشارې سره، په بل عبارت: د توري له ساکن کولو نه وروسته پرته له دې چې په تلفظ کې د حرکت کوم اثر ښکاره شي، فوراً شونډې یو له بله سره په اصطلاح ((غوټۍ)) شي او د کلمې حرکت ته اشاره کېږي، او د ((اشمام)) غږ د غوږ په واسطه نه اورېدل کېږي، ځکه په دې ډول وقف کې اصلاً له ژبې څخه

Download more from Libtoon.com

حرکت نه اداء کېږي، البته لیدونکی کولای شي د قاري د شونډو د اشارې په اثر تشخیص کړي چې هغه د اشمام وقف کړی دی، ((اشمام)) یوازې د پېښ په حرکت باندې جایز دی، په زور او زیر باندې اشمام نه کېږي، د مثال په ډول د ((نَسۡتَعِينُ)) په کلمه کې د ((ن)) توری د پېښ حرکت لري، د ((اشمام)) پر مهال دې اصلاً دا پېښ نه لولي، او ((ن)) دې په بشپړ ډول ساکن کړي، ولې د ((ن)) د اداء کولو پر مهال دې شونډې لږغوندې راټولې کړي، لکه چې د پېښ د اداء کولو په وخت کې راټولېږي.

۳ قاعده: د ((رَوم)) وقف پر هغې کلمې چې په آخر کې یې تنوین وي هم جایز دی؛ اما د حرکت د ښکاره کولو په وخت کې دې د تنوین هېڅ ډول اثر نه ښکاره کوي.[۱]

٤ قاعده: کومه ((تاء)) چې د ((ة)) په شکل لیکل کېږي (=د تانیث تاء) د وقف په وخت کې په ((ه)) بدلېږي، په هغې کې روم او اشمام جایز نه دی.[۲]

۵ قاعده: په عارضي حرکت باندې روم او اشمام صحیح نه دی، نو د ((وَلَقَدِ اسۡتُهۡزِئَ)) په جمله کې که د ((لَقَدِ)) په کلمه باندې

---

۱ استاد قاري عبدالله مکي، تعلیم الوقف

۲ تعلیم الوقف

Download more from Libtoon.com

وقف کېږي باید چې ((دال)) کاملاً ساکن شي او په کسره باندې يې د روم وقف ونشي، ځکه چې عارضي ده.[1] د اصلي او عارضي حرکاتو پېژندنه د عربي علم زده کړې پورې مربوط ده، په دې اساس په مشکوکو ځایونو کې باید د تجوید له علماوو څخه پوښتنه وکړئ.

٦ قاعده: هغه کلمه چې وقف پرې کېږي که وروستی توری يې شد ولري، د روم او اشمام د وقف په حالت کې تشدید په خپل حال پاتې کېږي.[2]

٧ قاعده: پر کومه کلمه چې وقف کېږي که وروستی توری يې نصب تنوین (ً) ولري، د وقف په وخت کې تنوین په الف بدلېږي، د مثال په ډول په ((وَإِنْ كُنَّ نِسَاءً)) جمله کې د وقف په حالت کې لولو: ((نِسَاءَا)).

٨ قاعده: که چېرته په وقفي او عارضي مد باندې (چې په یوولسم لوست دویمه قاعده کې يې بیان وشو)، د روم وقف وشي، په دې وخت کې مد نه انجامېږي؛ د مثال په ډول د ((الرَّحِيْمِ)) یا ((نَسْتَعِينُ)) په کلمو کې که د ذرې په اندازه هم کسره یا ضمه ښکاره شي، د مد توری نه کش کېږي.[3]

---

[1] هماغه منبع

[2] هماغه

[3] تعلیم الوقف

Download more from Libtoon.com

✍ پوښتنې

۱- په متحرکه کلمه باندې د وقف د طریقو نومونه واخلئ.

۲- د اشمام وقف تعریف کړئ.

۳- په عارضي حرکت کې روم او اشمام څه حکم لري؟

٤- په مشدده کلمه باندې د وقف حکم څه دی؟

۵- هغه کلمه چې نصب تنوین ولري، د وقف حکم په کې څرنګه دی؟

٦- پر حرکت باندې وقف کول څه حکم لري؟

۷- په عارضي مد باندې د روم وقف څه حکم لري؟ له مثال سره یې بیان کړئ.

Download more from Libtoon.com

✍ تمرين

(الف) په لاندې آيتونو کې د روم او اشمام وقفونه تمرين کړئ:

۱- إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ

۲- صٓ وَٱلْقُرْءَانِ ذِى ٱلذِّكْرِ ﴿١﴾

۳- إِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ

(ب) هر کله چې په لاندې آيتونو کې پـه نصـب تنـوين بانـدې وقف وشي، څرنګه لوستل کېږي:

۱- إِنَّا سَنُلْقِى عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴿٥﴾

۲- وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣﴾

۳- وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾

Download more from Libtoon.com

حفظ كرئ:

سورة المرسلات (١- ٢٨)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡمُرۡسَلَٰتِ عُرۡفٗا ١ فَٱلۡعَٰصِفَٰتِ عَصۡفٗا ٢ وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشۡرٗا
٣ فَٱلۡفَٰرِقَٰتِ فَرۡقٗا ٤ فَٱلۡمُلۡقِيَٰتِ ذِكۡرًا ٥ عُذۡرًا أَوۡ نُذۡرًا ٦ إِنَّمَا
تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٞ ٧ فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتۡ ٨ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتۡ
٩ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ نُسِفَتۡ ١٠ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتۡ ١١ لِأَيِّ يَوۡمٍ أُجِّلَتۡ
١٢ لِيَوۡمِ ٱلۡفَصۡلِ ١٣ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ١٤ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ
لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٥ أَلَمۡ نُهۡلِكِ ٱلۡأَوَّلِينَ ١٦ ثُمَّ نُتۡبِعُهُمُ ٱلۡأٓخِرِينَ ١٧
كَذَٰلِكَ نَفۡعَلُ بِٱلۡمُجۡرِمِينَ ١٨ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ١٩ أَلَمۡ
نَخۡلُقكُّم مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ٢٠ فَجَعَلۡنَٰهُ فِي قَرَارٖ مَّكِينٍ ٢١ إِلَىٰ قَدَرٖ مَّعۡلُومٖ
٢٢ فَقَدَرۡنَا فَنِعۡمَ ٱلۡقَٰدِرُونَ ٢٣ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٢٤ أَلَمۡ
نَجۡعَلِ ٱلۡأَرۡضَ كِفَاتًا ٢٥ أَحۡيَآءٗ وَأَمۡوَٰتٗا ٢٦ وَجَعَلۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ
شَٰمِخَٰتٖ وَأَسۡقَيۡنَٰكُم مَّآءٗ فُرَاتٗا ٢٧ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ٢٨

Download more from Libtoon.com

څوارلسم لوست

مهم او تيت و پرک ټکي

څه چې په دې بحث کې بيانېږي امکان لري چې په تيرو بحثونو کې بيان شوي وي؛ اما څرنګه چې د نورو مباحثو په ضمن کې راغلي احتمال لري چې په ذهن کې پاتې نه شي، په دې اساس تکرارول يې کوم اشکال نه لري، ولې اکثريت يې نوي مسائل دي:

۱- د کهف د سورت په (۳۸) آيت کې راغلي: ((لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ))

، يعنې د ((لَّٰكِنَّا)) په کلمه کې الف ليکل شوی؛ اما د وقف د حالت نه پرته دا توری (الف) نه لوستل کېږي.

۲- د رسم الخط له مخې د دهر د سورت په پيل کې د ((سَلَٰسِلَا۟)) د کلمې له دويم لام څخه وروسته هم الف شته، خو نه لوستل کېږي؛ البته د وقف په حالت کې د الف لوستل او نه لوستل اختياري دي؛ اما کوم الف چې له لومړي لام څخه وروسته راغلی په هر حال کې لوستل کېږي.

Download more from Libtoon.com

۳- تقريباً د دهر د سورت په منځ کې د ((قَوَارِيرَاْ)) کلمه دوه ځلي تکرار شوې او د دواړو په پای کې الف ليکل شوی دی، حکم يې دا دی چې د دويمې کلمې الف په هېڅ حالت کې نه لوستل کېږي، نه د وقف په حالت کې او نه هم د وصل په حالت کې؛ او د لومړۍ کلمې الف د وقف په حالت کې لوستل کېږي او د وصل په حالت کې نه لوستل کېږي، او غالباً عادت دا دی چې په لومړۍ کلمې باندې وقف کېږي، نو په دې صورت کې په لومړۍ کلمې کې الف لوستل کېږي او په دويمه کې نه لوستل کېږي.

٤- په قرآن کريم کې يوځای اماله شتون لري،[1] يعنې د هود د سورت په (٤١) کې ((بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡرٜىٰهَا))، د زيات تفصيل لپاره د اووم لوست څلورمې قاعدې ته مراجعه وکړئ.

٥- د ((حم السجدة)) (فصلت) په سورت کې د ((ءَاَعۡجَمِيٌّ)) کلمه په تسهيل سره لوستل کېږي، وضاحت يې په دوولسم لوست کې تير شوی دی.

٦- د حجرات په سورت کې د ((بِئۡسَ الِاسۡمُ)) په جمله کې د

---

[1] ((اماله)) يعنې فتحې ته د کسرې په لوري او الف ته د ياء په لوري ميلان ورکول، ((اماله)) واجب نه ده، څکه نو په دې باره کې قاريانو مختلف بيانونه کړي دي، ځينې په دې باور دي چې د مستعليه توريو نه پرته پاتې نور توري چې د استفال توري دي، د تلفظ پر مهال په امالې سره اداء کېږي. (ب)

Download more from Libtoon.com

((الاسم)) همزه نه لوستل کېږي، بلکې ((ل)) له ((س)) سره وصل کېږي. تفصيل يې په دوولسم لوست کې تير شوی.

۷- د ((لَئِنْ بَسَطْتَ، وَمَا فَرَّطْتُم، وَمَا فَرَّطْت)) په کلمو کې نيمګړی (ناتمام) ادغام کېږي، يعنې ((طاء)) له ((تاء)) سره وصلېږي او داسې په تشديد سره لوستل کېږي چې ((طاء)) د استعلا او اطباق له خپلو صفاتو سره پرته له قلقلې څخه ډکه اداء شي او د ((تاء)) توری باريک ولوستل شي. او د ((اَلَمْ نَخْلُقكُّم)) په کلمه کې بهتره دا ده چې کاملاً ادغام وشي، يعنې اصلاً ((ق)) ونه لوستل شي، بلکې ((ق)) په ((ک)) باندې تبديل او بيا دواړه يو له بل سره ادغام او په تشديد سره ولوستل شي.

۸- د ((ن والقلم، يس والقران الحكيم)) په جملو کې چې له نون او سين څخه وروسته کوم ((و)) راغلی، د نهم لوست د دويمې قاعدې د نون له بحث سره سم چې مخکې تير شو، بايد ادغام شي؛ اما دغه دواړه ځايونه مستثنا دي او ادغام نه کېږي.

۹- د يوسف د سورت په (۱۱) آيت کې د ((لَا تَأْمَنَّا)) کلمه راغلې، د دې کلمې په ((ن)) باندې اشمام کېږي.

۱۰- د قرآن کريم په ځينو آيتونو کې د ((سکته)) کلمه يا د ((س)) توری ليکل شوی دی، مطلب دا دی چې دلته دې لږ توقف وشي، اما

Download more from Libtoon.com

نفس دې نه قطع کېږي، او نور د وقف ټول احکام په کې اجراء کېږي، د مثال په ډول د قیامه په سورت کې د ((مَنْ سکته رَاقٍ)) جمله راغلې ده، د ((یرملون)) له قاعدې سره سم د ((مَنْ)) د کلمې ((ن)) باید له ((ر)) سره ادغام شي؛ اما دلته ادغام نه کېږي. همدارنګه د کهف په سورت کې راغلي ((عِوَجًا سکته قَيِّمًا))، که د ((عِوَجًا)) په کلمې باندې وقف و نه شي او له ورپسې کلمې سره وصل شي اخفاء نه کېږي،[1] بلکې نصب تنوین ((ً)) په الف بدلېږي او د سکتې عمل سرته رسېږي. د حفص له روایت سره سم په ټول قرآن کریم کې یوازې څلور ځایونه سکته شتون لري، لومړی د قیامه په سورت کې (۲۷) آیت، دویم د کهف په سورت کې (۱) آیت، دریم د یس په سورت کې د ((مِنْ مَرْقَدِنَا سکته)) په الف باندې کله چې له ورپسې جملې سره وصل شي، څلورم د مطففین په سورت کې د ((کَلَّا بَلْ سکته)) پر ساکن لام باندې. برسېره پر دې څلورو ځایونو باندې د فاتحې په سورت او نورو ځایونو کې سکته نشته.

نکته: د وقف په وخت کې ساه (نفس) قطع کېږي او د تلاوت د دوام لپاره نوې ساه اخلو، او په سکته کې د وقف پر خلاف ساه نه قطع کېږي، بلکې د ساه په جاري ساتلو سره لږ شبیه وقف کوو. (ب)

---

[1] له قانون سره سم هرکله چې له تنوین څخه وروسته د ((ق)) توری راشي باید اخفا وشي، ولې دلته د سکتې له امله اخفاء نه کېږي.

Download more from Libtoon.com

١١- په قرآن کريم کې د ضمې حرکت داسې ولوستل شي چې له معروف واو سره مشابه شي، او د کسرې حرکت دې داسې تلفظ شي چې له معروفې ياء سره ورته وي؛ اما ځينې يې داسې اداء کوي چې ضمه له مجهول واو او کسره له مجهولې ياء سره ورته والى پيدا کوي، چې دا کار د عربي ژبې له قواعدو سره خلاف دى، د ضمې او کسرې د اداء کولو طريقه بايد له مجربو استادانو څخه زده شي، شايد له ليکلو څخه درک نشي.

١٢- کله چې په مشدد ((و)) يا مشدده ((ى)) باندې وقف کېږي، بايد لږ څه تشديد په قوت سره دوام ومومي ترڅو تشديد پاتې شي، لکه: ((عَدُوّ))، ((عَلَى النَّبِيّ)).

١٣- د يوسف په سورت کې راغلي ((لِيَكُونًا مِّنَ الصَّٰغِرِينَ)) او د علق په سورت کې راغلي ((لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ))، که چېرته د ((ليكونًا)) او ((لنسفعًا)) په کلمو باندې وقف کېږي تنوين به نه لوستل کېږي او په الف باندې بدلېږي.

١٤- په قرآن کريم کې څلور کلمې شته چې په ((ص)) سره ليکل کېږي او د ((ص)) له پاسه وړوکى ((س)) هم ليکي، لومړى د بقرې د سورت (په ٢٤٥ آيت) کې ((وَٱللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ)) او دويم د

Download more from Libtoon.com

اعراف د سورت (په ۶۹ آیت) کې ((فِي ٱلۡخَلۡقِ بَصۜۡطَةٗ))، په دې دوو ځایونو کې ((س)) تلفظ کېږي، یعنې ((یبسط، بسطة))، دریم د طور د سورت (په ۳۷ آیت) کې ((أَمۡ هُمُ ٱلۡمُصَۜيۡطِرُونَ))، دلته اختیار لرو چې ((س)) تلفظ کړو او که ((ص))، څلورم د غاشیه د سورت (په ۲۲ آیت) کې ((بِمُصَيۡطِرٍ))، دلته په ((ص)) سره لوستل کېږي.

۱۵- په قرآن کریم کې څو ځایونه شته چې په ظاهره کې ((لَا)) لیکل شوي ولې ((لَ)) لوستل کېږي، د تلاوت پر مهال باید زیات مواظب واوسو، لومړی د آل عمران په سورت کې ((لَاْ إِلَى اللَّهِ تُحْشَرُونَ))، دویم د توبه په سورت کې ((وَلَاْ أَوْضَعُوا))، دریم د نمل په سورت کې ((أَوْلَاْ أَذْبَحَنَّهُ))، څلورم د والصفافات په سورت کې ((لَاْ إِلَى الْجَحِيمِ))، پنځم د حشر په سورت کې ((لَاْ أَنْتُمْ أَشَدُّ))، همدارنګه د آل عمران د سورت په (۱٤٤) کې ((أَفَائِنْ)) لیکل شوی او ((أَفَئِنْ)) لوستل کیږي او په څو ځایونو کې ((مَلَائِهِ)) لیکل شوی چې ((مَلَئِهِ)) لوستل کېږي، او د کهف د سورت په (۲۳) آیت کې ((لِشَاْيْءٍ)) لیکل شوی او ((لِشَيْءٍ)) لوستل کېږي، او په ځینو ځایونو کې ((نَبَاْيِ)) لیکل شوی او ((نَبَإِ)) لوستل کېږي.

Download more from Libtoon.com

یادوونه: زیاتره احکام چې په دې کتاب کې بیـان شـوي هغـه احکام دې چې د تجوید ټول علما د نظر اتفاق پرې لري، احیاناً که په ځینو مسائلو کې اختلاف وو، د امام حفص (رح) قول مو اختیار کړی دی، ځکه چې مونږ د هغه له روایت سره مطابق قرآن لولو او هغه له امام عاصم تابعي (رح) څخه قرآن زده کړی دی، او هغه لـه زر بن حُبیش اسدي او عبدالله بن حبیب سلمي او دوی له حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت زید بن ثابت، حضرت عبـدالله بـن مسعود او ابی بن کعب (رضی الله عنهم)) څخه او دوی ټولو بیا لـه حضرت رسول مقبول (ص) څخه یاد کړی دی.

Download more from Libtoon.com

پوښتنې

۱- په قرآن کې څو ځایونه اماله شته، نومونه یې واخلئ.

۲- تسهیل څه ته وایي؟

۳- سکته څه معنا لري؟

٤- د سکتې او وقف ترمنځ څه توپیر دی؟

۵- هغه څلورګونې کلمې چې په ((ص)) سره لیکل کېږي او وړوکی ((س)) یې هم له پاسه لیکل کېږي کومې دي؟ د هرې یوې حکم بیان کړئ.

Download more from Libtoon.com

✍ تمرين

(الف) لاندېني آيتونه تلاوت کړئ او د هغو کلمو چې لاندې ترېنه کرښه کش شوې، مربوطه قواعد اجراء کړئ:

۱- لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ﴿٣٨﴾

۲- إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَاْ وَأَغۡلَٰلٗا وَسَعِيرًا ﴿٤﴾

۳- ۞ وَقَالَ ٱرۡكَبُواْ فِيهَا بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡر۪ىٰهَا وَمُرۡسَىٰهَآۚ إِنَّ

رَبِّي لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٤١﴾

٤- بِئۡسَ ٱلِٱسۡمُ ٱلۡفُسُوقُ بَعۡدَ ٱلۡإِيمَٰنِۚ

٥- كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيلَ مَنۜۡ رَاقٖ ﴿٢٧﴾

٦- وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْيۡءٍ إِنِّي فَاعِلٞ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾

۷- قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَا مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرۡقَدِنَاۜۗ هَٰذَا مَا وَعَدَ

ٱلرَّحۡمَٰنُ وَصَدَقَ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٥٢﴾

Download more from Libtoon.com

حفظ کړئ:

سورة المرسلات (٢٩-٥٠) آيتونه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلّٖ ذِي ثَلَٰثِ
شُعَبٖ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيلٖ وَلَا يُغۡنِي مِنَ ٱللَّهَبِ ﴿٣١﴾ إِنَّهَا تَرۡمِي بِشَرَرٖ كَٱلۡقَصۡرِ
﴿٣٢﴾ كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٞ صُفۡرٞ ﴿٣٣﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٣٤﴾ هَٰذَا يَوۡمُ
لَا يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤۡذَنُ لَهُمۡ فَيَعۡتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ
لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٣٧﴾ هَٰذَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِۖ جَمَعۡنَٰكُمۡ وَٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ فَإِن كَانَ
لَكُمۡ كَيۡدٞ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ
فِي ظِلَٰلٖ وَعُيُونٖ ﴿٤١﴾ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشۡتَهُونَ ﴿٤٢﴾ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا
بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيۡلٞ
يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾ كُلُواْ وَتَمَتَّعُواْ قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجۡرِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَيۡلٞ
يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرۡكَعُواْ لَا يَرۡكَعُونَ ﴿٤٨﴾
وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ فَبِأَيِّ حَدِيثِۢ بَعۡدَهُۥ يُؤۡمِنُونَ ﴿٥٠﴾

Download more from Libtoon.com

د توریو د مخرجونو ښودنه

د غاښونو ښودنه



د ژبې برخې



Download more from Libtoon.com



۱ مخرج: د خولې خالیګاه (جوف): د مدي توريو ((و، ی، الف)) د وتلو ځای.

(توجه: سور رنګ د خولې د جوف (خالیګاه) ښودونکی دی)



۲ مخرج: د ستوني وروستۍ برخه: د همزه او هاء د وتلو ځای.

۳ مخرج: د ستوني منځ: د عين او حاء د وتلو ځای

٤ مخرج: د ستوني لمړۍ برخه: د غين او خاء د تلفظ ځای.

Download more from Libtoon.com



۵ مخرج: د ((ق)) د تلفظ ځای، د ژبې بېخ (پای) او لهات.



٦ مخرج: د ((ک)) د تلفظ ځای، د ژبې پای او د لهات مجاورت.

Download more from Libtoon.com



۷ مخرج: د ((ج))، ((ش)) او متحرکه ((ی)) او د لین ((ی)) د اداء کولو ځای. د ژبې منځ (وسط) او مخامخ یې له تالو څخه.



۸ مخرج: د ((ض)) د تلفظ ځای، د ژبې اړخ او د پورتني اضراس پنځه غاښونه.

Download more from Libtoon.com



۹ مخرج: د ((ل)) د تلفظ ځای، د ژبې د مخکینۍ برخې د څنډو او د پورتنیو ثنایاوو، رباعي، ناب او ضاحکو د وورېو لړ ېدل.

۱۰ مخرج: د ((ن)) د تلفظ محل، د ژبې د اړخ (طرف) او د پاسینۍ ژامې د ثنایاوو، رباعي او ناب د وورېو سره لړ ېدل.

Download more from Libtoon.com

۱۱ مخرج: د ((ر)) د توري د تلفظ ځای، د ژبې طرف د ژبې د شا له دخالت سره او د ثنایا او رباعي ووری.



۱۲ مخرج: د ((ط، د، ت)) د تلفظ ځای، د ژبې څوکه او د پاسنیو ثنایاوو بېخ.

Download more from Libtoon.com





۱۳ مخرج: د ((ظ، ذ، ث)) د تلفظ محل: د ژبې څوکه او پاسنیو ثنایاوو څنډې.





۱٤ مخرج: د ((ص، ز، س)) د تلفظ ځای، د ژبې سر او د ښکتنیو ثنایاوو څنډې.



۱۵ مخرج: د ((ف)) د وتلو ځای، د پورتنیو ثنایاوو سرونه او د ښکتنۍ شونډې داخلي برخه.

Download more from Libtoon.com



۱۶ مخرج: د ((ب))، ((م)) او متحرک ((و)) او لـین ((و)) د تلفـظ ځای.



۱۷ مخرج: د غنې مخرج، د پوزې خالیګاه (فضا).

Download more from Libtoon.com

پای

د سپوږمۍ رڼا په څوارلسمه شپه کمال ته رسېږي او د دې کتاب مطالب هم په څوارلسم مبحث کې پای ته ورسېدل، لـه الله تعـالی څخه غوښتونکی یم چې (د دیني علومو د طالبانو او په عامه توګـه ټولو لوستونکو ته یې) ګټور او پـه خپـل دربـار کـې یـې مقبـول وګرځوي، له ټولـو شـاګردانو پـه ځـانګړي ډول لـه ورو کیـو او ملکوتیانو څخه د خیر د دعاء غوښتنه لرم.

اشرف علي عفی عنه

۵ صفر ۱۳۳٤ هـ ق

د بیا لیکنې پای د ۱٤۱٦ هجري قمري کال د شـوال میاشـت، د ۱۳۷٤ هجري لمریز کال د کب له میاشتې سره برابر.

ابو شعیب عبدالقادر دهقان

بلوچستان- سراوان

د الله په فضل سره د کتاب پښـتو ژبـاړه د دوشـنبې پـه شـپه د (۱٤۳۵ هـ ق) کال د جمادی الثانیة په ۲۱ نېټه، چې د (۱۳۹۳ هـ ل) کال د وري له ۳ سره برابره ده، پای ته ورسېده.

محمد جواد مبارز – کابل

Download more from Libtoon.com

Download more from Libtoon.com

DESIGING BY- AL SYED PRINTERS 0300-5925017

خیبر خپرندویه اداره
میوند واټ احمدي پلازه دویم پوړ کابل
Contact #: 0772033827 | 0778000128
E-mail: khyberbooks@gmail.com

Download more from Libtoon.com